مورچل

کالګنه

دکالګنې له فرصته ...!

یوولسم کال دولسمه، پرلپسې۱۱۲مه ګڼه،
ربیع الاول۱۴۳۹هق دیسمبر۲۰۱۷م

په افغانستان کې
څومره امریکایي پوځیان وژل شوي؟!

مورچل
له سلو ګڼو وروسته !

- د کال اوښتون له خان سره څه پیغام لري؟
- ملا فقیرمحمد درویش دجهادي ترنم منل شوی سرخپل

امریکا نړیوالو قضایي مؤسسو ته څومره ارزښت ورکوي؟

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

يو ولسم کال دوولسمه، پرلپسې ۱۱۲مه ګڼه، ربيع الاول ۱۴۳۹هـ ق د سمبر ۲۰۱۷م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	مورچل له سلو ګڼو وروسته.....	۳
۳	امریکا نړیوالو قضایي مؤسسو ته څومره ارزښت.....	۵
۴	په افغانستان کې څومره امریکایي پوځیان وژل شوي؟!	۷
۵	د رسنیو نړۍ او مونږ.....	۹
۶	د القدس قضیه، د امریکا اهداف او د نړیوالو مسئولیت	۱۳
۷	آیا امریکا به خپلې ګټې د افغانستان د ارامۍ او	۱۹
۸	د کال اوښتون له ځان سره څه پیغام لري؟.....	۲۱
۹	د جنګي مجرمینو ترشا څوک دي؟.....	۲۳
۱۰	په سیاسي ډګر کې د امریکا داستر شکست څرنګه.....	۲۴
۱۱	د تعصب او قوم پرستۍ شرعي حیثیت.....	۲۷
۱۲	مصري ډاکټر.....	۳۰
۱۳	ملا فقیر محمد درویش د جهادي ترنم منل شوی سرخپل	۳۳
۱۴	د اسلام غزوات او سرایا.....	۳۶
۱۵	دا طالبان... ترمرګه پورې مجرمان په توبه باندې ببني..	۳۹
۱۶	د مورچل وړمې.....	۴۲
۱۷	جنګي جنایتونه.....	۴۴
۱۸	د دیسمبر د میاشتې جهادي خبرونه.....	۴۷

د امتیاز خاوند:

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر:

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی:

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې:

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دکالګنې له فرصته...!

پرهیواد دغربي ښکېلاک په وړاندې دحق دمورچلونو له تودېدو سره سم له دغه مطبوعاتي "مورچله" هم دحق چیغه پورته شوه او ترننه تر دیرغل په وړاندې په پوره ثبات او متانت مقابله کیږي، دادی نن یې د ۱۱۲ مې ګڼې شاهد یاست چې له پیله یې په مسلسل ډول میاشت په میاشت دچاپ مرحلې طی کړې او لله الحمد په دې ټوله موده کې یې هیڅ ډول تقطیع او وقفه نه ده پېژندلې .

ښایي په دې دومره اوږده موده کې یې په بنه او محتواکې تغیر او بدلون مونډلی وي (چې بایدویې مومي) خو په مدعا او غایه کې یې بدلون نه دی راغلی او له لومړۍ ورځې یې چې دباطل په وړاندې دحق اواز پورته کړی ترننه یې همدامسیرپه محکې نیولی او ټول هغه واقعیتونه او حقایق یې برملاکړي چې دنن کاذبه میډیایې دحق او دبیان دآزادۍ له غټو دعوو سره سره ترکومې تېروي .

دوخت کفري بلاک دحق او حقانیت غږ دخپه کولو په غرض د" احزاب" جګړه پیل کړې، له لویو بحرونو هاخوا دلته راغلې په یوه غږ او یوه نوم (ناټو) یې پرمورږ یرغل راوړی،په دغه یرغل کې یواځې زمورږ پروژلو بسنه نه کوي، بلکې زمونږ دبدنامولو او ناروا ثابتولو لپاره یې زمونږ په وړاندې دنړۍ په سطحه په ډېرلوی قیمت مطبوعاتي جګړه هم پیل کړې، ددې جګړې په وړاندې یې هم یواځې داسلامي امارت مطبوعاتي جزوتامونه مقاومت کوي، لله الحمدپه داسې حال کې

چې وسایل او امکانات یې هیڅکله سره دپرتلنې نـه دي، بیـایې هـم لکـه څرنګـه چـې دوی وایې داجګړه په همدې نه وسایلو ترې ګټلې.

مورچل ددغه مقاومتي سنګر یوه رسنیزه وسیله اودهغـه مجاهـد داعیـه ده چـې دهیـواد پـه لروبرکې دکفري اشغال په وړاندې دتاریخ ترټولـو درنـه جګـړه پـرمخ وړي اوله خپـل دیـن او هیواده په دفاع او مبارزه بوخت دی، له دې مورچله پرته یې په نړۍ کې هیڅـوک غـږ نـه اوري، مورچل له خپل مجاهده ددفاع ترڅنګ دا مني چې داجګړه ده او په جګړه کې ښـایې پـه مورچـل کې دناست مجاهد دقلم له میله داسې سوکې هم تویه شي، چې ځینې لوستوال اوقلموال ورته دنقـد ګوته ونیسي، مورچل یې په ورین تندي منی او دلابهبود په موخه ورته بیا بیا ستر ګې په لارده .

مورچل داهم مني چې په خپل درانه مطبوعاتي مسؤلیت کې یې لکه څرنګه چې ښایې هغـه ډول مبارزه نه وي کړې، خو دنن په شرایطو او دزماني دجبر په سـختو امتحـاني شـیبو کـې یـې دراتلونکي نسل فرد فرد ته دحق دمبارزینو یو یو وار اودهیواد دلوړشت لوړشت خاورې مبـارزه په خپله سینه کې ځای کړې او ورسره یې دوخت له غوښتنو سره سـم نـور بېلابېـل مطالـب او معلومات هم نشرته سپارلي .

دکالګنې له فرصته په استفادې یې وایو: دغه مجلـه ستاسـو همـکارو لیکوالـو پـه مـټ دکال طباعتي پړاوونه ووهل او ستاسو د جهادي قلمونو له شامته کالګنه شـوه، مجلـه ستاسـو دقلمونـو دتقدیر ترڅنګ هیله منه ده، چې لایې په خپلو قلمي همکاریـو له احتیـاج او نیمګړتیـاوو غـني وساتئ !

داچې مورچل په هیواد کې دصلیبي یرغل په وړاندې دروانې معرکې دصحنې صحنې چاپې آرشیف دی، په نورو سیاسي، علمي او اجتماعي برخوکې یـې له څـو ګنـو راهیسـې یـوائې هغـه لیکنې خپرې کړې او خپروي به یې چې همدې ګنې ته ځانګړې شوې وي، دې توپیر یـا نوښـت ته په کتو هغه درانه لیکوال راڅخه خوابدي نه شي چې یوه نیمه لیکنه یې له نشر څخه پاته شوې وي، او خدای مه کړه، قلمي تړاو یې له مجلې سره پرې شي .

په هیوادکې دسپین بیرغ دحاکمیت په هیله

مورچل له سلو ګڼو وروسته!

ذبیح الله مجاهد

د اسلامي امارت د فرهنګي چارو کمیسیون په چوکاټ کې په چاپي برخه کې د ګڼو مجلو چاپیدا او وخت په وخت لوستونکو ته وړاندي کیدا د وخت خورا مهمه غوښتنه او د راتلونکي تاریخ یوه مبرمه اړتیا ده.

د اسلامي امارت مجاهدین په ګرمو جهادي سنګرونو کې د اشغالګرو امریکایانو او د هغوی د تالي ځټو غلامانو په مقابل کې شپاړلس کاله کیږي، په درنه او پیاوړې مبارزه لګیا دي.

همدا ډول د اسلامي امارت بیلابیل ارګانونه د لزوم دید سره سم فعالیت کوي او د اسلامي امارت طوفاني کښتۍ د بشپړې بریا د ساحل په لور په حرکت کې ساتي.

خو د دې ټولو فعالیتونو او نظامي پرمختګونو، قربانیو او خورا حیرانونکو جهادي بریدونو د انعکاس او بیا په آرشفیونو کې د محفوظ ساتلو دنده د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون په چوکاټ کې دچاپي رسنیو (مجلو) په اوږو پروت دی.

په همدې اساس تېرکال د مورچل مجلې د سل ګڼو چاپ بشپړ شو چې د تېرو جهادي کلونو راپورونه، پرمختګونه او تصویر برداري یې پخپله سینه کې وساتله.

له تېرکال څخه را وروسته دادی د سنګرونو مورچل یو بل بریالی کال تر شا پرېښود او له سلو را وروسته کال ګڼه یې په چاپ وپسولل شوه.

د مورچل مجلې چلوونکو، لیکوالانو، مسئول مدیر، کتنپلاوي او ټولـو لوسـتوالوته د دې بریـا مبارکي وایم او په راتلونکي کې د لا پیاوړي خدمت هیله ورته کوم.

مورچل به نور پرېنږدي چې د هیواد د اصیلو بچیانو (دیني قشرـ) د جهـادي حماسـو، قربـانیو، لاسته راوړنو او ویاړونو افتخار نور جهتونه ځانته منسوب کړي او لکه د تیـرو تـاریخونو غونـدې د علماء کرامو او دیني لارښونکو د زعامت او جهادي زړورتوبونو پاڼه تته او بې خونده پرېښودل شي.

د انګریزانو په زمانه کې چې د افغانستان د آزادۍ په مبارزه کې کوم جهادونه د هیواد دیني قشرـ علماء کرامو او دیني طالبانو ترسره کړی وه ساری یې نه درلود، خو په رسمي تـاریخونو او مغرضـو لیکنو کې په لوی لاس د هغـوی پـه خـدمتونو پـرده اچـول کیـده او ویاړونـه یـې نـورو غیـر مـؤثرو اشخاصوته منسوب شوي دي.

نور به داسې نه کیږي، نور د دې تشې د ډکیدا لپاره مورچلـوال لـرو او د مورچـل هـرې ګڼې د روان جهاد د اصیلو قهرمانانو له ویاړه ډکې افتخاري پانې له ځانه سره رانغښتي دي.

د راتلونکو تاریخ لیکونو، څېړونکو او ویښو نسـلونو لپـاره د مورچـل مجلـې هـره ګڼـه او هـر کلیکسیون خورا ډیر دقیق او باوري معلومات له ځانه سره لري او هیڅاته به د روان جهاد د اصیلوالي او څرنګوالي په اړه شک او شبهه پرېنږدي. ان شاءالله

په دې لاره کې د ټولو قلموالو، د خبر او راپور په برخه کې د زحمت کښونکو او په ټوله کې د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون سـتړیاوې د قـدر وړ دي، بایـد مننـه تـرې وکـړو او د لا قـوت او پیاوړتیا لپاره یې هغوی وهڅوو.

زه یوځل بیا د مورچـل مجلـې لـه ټولـو کـارونکو، لیکونکـو، مسـئول مـدیر او اړونـدو نـورو مسئولینو له سعیو او ستړیاوو څخه قدردانی کوم چې په خورا حساس وخت کې یې د خـورا ډیـرو مشکلاتو په ګاللو سره د دغه لوی او لوړ خدمت ترسره کولو ته اوږه ورکړی او زیـار بـاسي. اجـرکم علی الله

د لا ډیرو بریا او پرمختګ په هیله. والسلام

امریکا نړیوالو قضایي مؤسسو ته څومره ارزښت ورکوي؟

خبیراحمد م

تیره اونۍ دجرمونونړیوالې محکمې (ICC) وئیلي ووچې امریکایي عسکرواودسي آی اې څارګري شبکې دتیرو ۱۲ کلونوپه اوږدوکې په افغانستان کې ګڼ بشري جرمونه سرته رسولي ، محکمې وغوښتل چې دوی ته اجازه ورکړای شي ترڅو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د جنایاتو پلټنې او تحقیقات وکړي

خو دجمعې په ورځ واشنګټن پوسټ دپنټاګون دوینډوی له قوله ولیکل چې امریکابه دجنایاتو له نړیوالې محکمې سره همکاري و نه کړي چې په افغانستان کې د امریکا او ناټو پوځیانو ترسره کړي جرمونه اوبشري خلاف ورزي وارزوي.

دیوې احصایې له مخې امریکایانوله تیرو ۱۲ کلونوراهیسي شاوخوا ۳ لکه مظلوم افغانان دهوایي بمبارید ، ډرون برید ونو ، چاپو اونورو پیښو کې شهیدان کړي اویو میلون افغانان یې په دې نوم چې هغوئ دامریکایانوله اشغال سره مخالفت لري په بګرام اونورو امریکایي زندانونو کې شکنجه کړي دي

له ورایه خوامریکایان اوغلامان یې ځانونه دبشری حقوقو اوانساني موازینو اول درجه علمبرداران بولي اوهمیشه یې شعارونه داوی چې دوئ په جګړه کې ټولوانساني ارزښتونو او نورمونوته پام کړی اوکوي یې؛ خوپه عمل کې خبره بیابرعکس اوسرچپه ده.

امریکایانوته ولسي مسکوني سیمې ،جوماتونه ، صحي مراکز، مدرسي ، ودونه ، جنازي اودلویي لاري دمسافروکاروانونه هیڅ توپیراواهمیت نلري له یوې مخې یې

بمباردوي ، ددغو جرمونو اوفجائيعو ارتكاب امريكايانو په كراتومراتو كړي اوپرته له كوم ځنډ هره ورځ په افغانستان كې دوام وركوي ، له بلې خواچې كله مرګ ژوبله زياته واړوي اوپوه شي چې جنايت يې نور دپټيدو او هيريدوندى بيا امريكايي جنرالان يواځې په نمايشي بښنې سره هڅه كوي په خپلې افغان دښمنه ځيري پرده وغورځوي اووايي چې تيروتنه تړې شوي.

امريكايان له بشري نورمونو او موازينو سره دومره نا انصافه او په خصومت كې واقع دي چې تنها دخپلو جرمونو په مقابل كې د نړيوالو قضايي مراجعو او جزايي موسسو دتحقيقاتو او ځيرنو مخالفت نكوي، بلكې د فلسطين دمسلمان ولس سره چې له تيرو ۷۰ كلونو راهيسى اسرائيلي غاصب رژيم كوم جبر او زياتى سرته رسولى كله هم چې كومې نړيوالې محكمې دا سرائيلو په مقابل دګام اخيستلو خبره كړې او د فلسطينياتو د مظلوميت ناره يې اوچته كړې امريكايې په مخكې كلك دريدلې اوچاته يې اجازه نده وركړې چې دا سرائيلو په وړاندې په نړيواله محكمه كې كومه پريكړه صادره كړي

په افغانستان كې امريكايانو دخپل اشغال له پومبى ورځې راهيسې دافغانانو د مظلوميت غږ زيندى كړى ، رسنى يې په خپل اختيار او كنټرول كې اخيستې ، هغو نړيوالو قضايي اورګانو چې دكومې بشري پيښې دځيرلو چمتوالى ښوولى اويايې د امريكايانو په لاس دوژل شوو اوشكنجه شوو افغانانوبې پرې ځيرنې ته امادګي ښودلې دبشريت كاذبو مدعيانوهغوئ ګوابنلي اواجازه يې نده وركړې چې په ازاده بڼه حقائيق دخلكو اذهانو ته لارپيدا كړي اويامظلوموو ګروته انصاف ورسيږي.

باور لروچې ترڅودامريكايانو پليد قدم په افغانستان كې موجودوي افغانان به دځور ، كړاو ، بدبختى ، فقراونوروناخوالوسره لاس اوګريوان وي ، له هغو څخه دنجات اوخلاصون لار تنهادادە چې دامريكايى وحشيانو په مقابل دافغانانو سرتاسري مقاومت نورجديت اوقاطعيت پيدا كړي ، دافغانستان ځمكه ورته سره تبى وګرځول شي اوداسې تيښتي اوفرارته اړكړل شي چې يووحشي عسكريې هم دلته نور نه وي پاته.

وماذلک علی الله بعزیز

په افغانستان کې څومره امریکایي پوځیان وژل شوي؟!

احمد مختار

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر له اوومې نیټې راهیسې پرافغانستان د امریکایي یرغل له پیل نه د ۲۰۱۸ میلادي کال د جنورې تر ٦ پورې په افغانستان کې ۲۲۵۵۲ امریکایي پوځیان مړه او ژوبل شوي دي.

پورتني معلومات د روان میلادي کال د جنوري په ۸ د امریکا د دفاع وزارت (پنټاګون) د یوې رسمي اعلامیې له لارې له رسنیو سره شریک کړي دي.

د پنټاګونو د نشر کړیو معلوماتو په اساس په افغانستان کې په تیرو ۱۷ کلونو کې ۲۲٦۳ امریکایي سر تیري وژل شوي او ۲۰۲۸۹ تنه ژوبل شوي اعلان کړي دي.

د امریکا د دفاع وزارت په عین ورځ په عراق کې هم د خپلوپوځیانو د مرګ ژوبلې ارقام خپاره کړي دي.

د یادو معلوماتو پر اساس په عراق کې ۴۵۳۳ امریکایي پوځیان مړه او ۳۲۳۱۰ ژوبل شوي دي .

د امریکا د دفاع وزارت په داسې حال کې په افغانستان کې د خپلو وژل شویو او زخمي شویو پوځیانو ارقام خپروي چې لا هم دلته لسګونو زره امریکایي محارب پوځیان له طالبانو سره په جګړه لګیا دي .

د پنټاګون لخوا نشر کړل شوي ارقام یواځې هغه ارقام دي چې د دوي لخوا یې د رسمي اعلامیو په ترڅ کې وژل کیدل منل شوي ، کنه په حقیقت کې په افغانستان کې د وژل شویو امریکایي پوځیانو شمیر د هغوي تراعلان شوي شمیرې ډیر زیات دی، مګر امریکایي پوځي چارواکي کله هم نه غواړي چې په افغانستان کې د وژل شویو سرتیرو له اصلي شمیرې دي امریکایي ولس خبر شي.

په افغانستان کې د امریکایي عسکرو د مرګ ژبلې اصلي شمیر ځکه زیات دی چې کله مونږ د ټول افغانستان په کچه په دوه ورځې کې یو

امریکایي وژل شوي فرض کړو نو هم په یوه کال به د وژل شویو شمیر ۱۸۰ تنه وي.

دا کلنۍ شمیره که په ۱۷ کې ضرب شي نو مجموعي محصول یې ۳۰۶۰ تنه وژل شوي پوځیان وي

په هرصورت پنټاګون په افغانستان کې په تیرو ۱۷ کلونو په افغانستان کې یواځې خپل بشري تلفات اعلان کړي ، په هغو کې یې هم د معیوبینو او په عقلي او عصبي ناروغیو اخته شوي کسان نه دي یاد کړي.

او همدا راز یې دلته د خپلې ۱۷ کلنې جګړې مالي لګښت او د مجاهدینو په لاس د نسکور و کړل شویو الوتکو او تخریب شویو شوبلو او جنګي وسائطو هیڅ تذکر نه دی کړي.

په افغانستان کې د امریکایانو ظالمانه جګړه چې د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه ګڼل کیږي د هغوي په منځ کې د تریلیونونو په جګړې هم مشهوره ده ، د تریلیونونو جګړه په دې معنی چې دلته یې د تریلیونونو ډالرو له لګولو سره سره هیڅ پوځي بریالیتوب نه دی تر لاسه کړی .

د امریکایانو لخوا په افغانستان کې د مجاهدینو په لاس د وژل شویو زرګونو امریکایانو د شمیر اعلانول په حقیقت کې د هغوی لخوا په دې هیواد کې د مجاهدو افغانانو په مقاومت او په دې مقاومت کې د امریکا په مقابل کې په شکست ښکاره اعتراف دی .

او دغه اعتراف د هغه الهي ارشاد مصداق دی چې قرآن کریم کې د اسلام د دښمنانو (کافرانو) په اړه ویلي دی:

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ (۳۶) الانفال.

ژباړه : بې شکه هغوی چې کافران شوي خپل مالونه د دې لپاره لګوي چې خلګ د الله له لارې ایسار کړي، نو وبه یې لګوي خو بیا به وربانديې پیښمانتیا وي ، او بیابه مغلوب شي ، او هغوی چې کافران شوی دي ټول به جهنم ته ورغوند کړی شي.

د رسنیو نړۍ او مونږ

بشیر

نن سبا دلویدیځ رسنیو غلبه ده او پر ټوله نړۍ یې یو خواکمن رسنیز زېښناک ملسط کړ ی، ځکه ټولو مهمو غربي هېوادو دخپلې اقتصادي، ساینسي او مسلکي برتری په پار داطلاعاتو ترلاسه کول اوخپرول یوه مهم اړتیا ګڼلې ، دېری غربي هېوادو دخپلومصنوعاتو صادرولو په لړکې په لوی شمیر هغه اجناس چې درسنیو او دلیږد او ترلاسه کولو سره تړاو لري لکه تلویزون، رادیو، کمپیوټر، نیټ، فکس او نور دخپلو مهمو صنعتي صادراتو په توګه وړاندي کوي

دشک پرته دا هم یو رون حقیقت دی چې نوې پرمختللې رسنۍ د نوي صنعتي انقلاب میوه ده، کوم چې لومړی په لویدیځ کې ځرګند شوی او د چاپې رسنیو نیولې تربرښنائی رسنیو دا انقلاب لومړی په غرب کې راغلی آن تردي چې ننۍ نړۍ درسنیو نړۍ بلل کېږي

رسنیولپاره عربي کې د (ابلاغ) لفظ کارول کېږي، ابلاغ د(بلغ) نه اخستل شوی، معنی یې ده رسول؛ دبلغ نه نور ورته الفاظ هم اخستل شوي لکه: تبلیغ، مبلغ، بلاغت، بلیغ او داسې نور... دعربي ګرامر له مخې: ابلاغ وایي [,,رسولوته''

فیروزلغات کې هم د ابلاغ معنی ,,رسول'' ,,لیږل'' او,, تبلیغات،، شوې... دیته په پام ویلی شو چې درسنیو اطلاق په لاندې کارونو کېږي

الف: خبره، پیغام، خیالات، عقاید، یا علوم ترنوروخلکو رسول

ب: دوینا، لیکلو او اشارو په زریعه تبلیغ کول.

ابلاغ یا رسنی څه ؟

اوسني دور ته درسنیو دور ویل کېږي، هره ورځ دزرګونو په شمیر ورځپاڼې، اوونیزې او مجلې خپریږي، دتلویزون خپرونې څلورویشت ساعته معلومات خپروي، رادیوې څپې ترهغو خایونو هم اطلاعات رسوي چېرته چې دتلویزون ، ورځپاڼو، او مجلو رسیدل ناشونې وي ، لنډه داچې رسنۍ دبشري ژوندانه یوه مهمه اړتیا ګرځیدلې، انسان ، ثانیه، په ثانیه غواړي له نویو حالاتو خبر اووسي، په انفرادي سطحه رسنۍ دشخصي څرګندونو زریعه ده، خو په ټولنیز ډګر کې دیوه اجتماعي عمل او بهیر نوم دی، خپل اندونه او نظرونه ترنورو خلکو رسول بشري فطرت دی ، کوم ته په کتو چې ارسطو انسان ته بشري حیوان ویلي ، درسنیو تاریخ موږ ته راښیي چې بشري ټولنه هر څومره دپرمختګ او ترقۍ پراونه طی کوي ورسره در سنیو اهمیت او ضرورت نورهم سیوا کېږي په او س وخت کې دکلتوري او سیاسي پرمختیاوو ترڅنګ دمعلوماتو ترلاسه کول دبشري ژوند یوه برخه هم بلل کېږي راځئ ولولو چې رسنۍ څه شی دي؟

ابلاغ یا رسنۍ هغه فن دی چې پر واسطه یې موږ یوخبر، یوفکر، یوپیغام، ترنورو رسوو، یعنې موږ چې هرڅه وایوو کوښښ مو وي چې زموږ خیالات او محسوسات ترنورو ورسې او هغوی ورباندې پوی شي، دې کارته رسنۍ ویل کېږي نفیس الدین سعدي وایي: ابلاغ دهغه علم او هُنر نوم دی چې دهغه په واسطه یوتن کوم خبر، اطلاع، فکر، نظر یا یو اعلان بل تن ته رسوي

زموږ په ورځینې ژوند کې له خبرو ـ غږیدا پرته هیڅ مسئله نه حل کېږي ، درس، تدریس دوستانه اړیکي ، دسیاستوالو ویناوې ، دخلکو لاریونونه ، دغم اوهمدردۍ اظهار ، د دوکان نه سودا اخستل، دا ټول دابلاغ صورتونه دي په کومو کې چې موږ خپل مافی الضمیر نوروته رسوو بس دیته ابلاغ ویل کېږي

دځینو پوهانو په اند: ترنورو دخپل نظر او فکر رسولو ته ابلاغ ویل کېږي خو دا ضروري نده چې خامخا دي دهغه لپاره لفظ کارول شوی وي، انځور جوړونکی او کارټونست خپل مافی الضمیر درنګونو په واسطه ښکاره کوي عکاس خپله نظریه دکامرې له لارې بیرون ته راولي، په سرک سورڅراغ یا اشاره د تم کیدو نښه ده اوشین څراغ بیا ..دتلو نښه ده ....

درسنیو تاریخ دا ښیي چې انسان په هروخت کې دپیغامونو لیږلو او ترلاسه کولو لپاره دشته مهمو وسایلو څخه کار اخیستی، په وړاندې زمانو کې تر اوږدې مودې لیکونه په ډبرو، پانو، دونو په پوستونو، رختونو، دځارویو په څرمنو او دلرګیو په لویو او کوچنیو تختو لیکل دود و او یوبل ته پیغامونو لیږلو لپاره تړې کار اخستل کېده کله چې کاغذ جوړشو بیا کرار،کرار په کاغذ لیکل دود وشول او کله چې چاپ ایجاد شو ورسره چاپي کتابونه اورسني منځته راغلې او نن په نړۍ کې هره ورځ په زرګونو ټوکه کتابونه مجلې او ورځپاڼې دکاغذ په مخ له چاپ راوزي او په ملیونو خلک یې لولي

دنولسمې پیړۍ صنعتي انقلاب درسنیو په نړۍ کې پراخ او ستر بدلونونه رامنځته کړل ، بریښنایې رسنۍ ایجا دشوې ، رادیو، ټلویزون، کمپیوټر او انټرنیټ درسنیو دکار دګر نور هم پراخ کړ، وړاندې به یوپیغام، یا یوخبر که دکلونو، میاشتو ، ورځو اوساعتونو په ځنډ سره نشرکیده نن د دقیقو او ثانیو په ځنډ کې دنړۍ له یوسره تربل سره رسي

په دې وجه حتمې ده چې اوس مهال رسنۍ دټولنو او هېوادونو په تعمیر او تخریب دواړو کې بنسټیزاو مؤثر رول لري، درسنیو دومره تیز پرمختګ نړۍ دخپل پوښښ او څپو لاندې راوستې چې دزمکنۍ کرې هیڅ برخه یې له پوښښ څخه بیرون نده او هم په زمکنۍ کره باندې هره واقع کیدونکې یوه پیښه یواځې ترهغه سیمې محدود پاتې کېږي نه بلکې تري ټوله نړۍ یې تر اغیزلاندې راتلی شي

اوس وخت کې درسنیو اهمیت او افادیت ګټه له دې څخه ولګوئ که مونږ یومخ درسنیو دټولو وسایلو، سره قطع وپریکون وکړو، او دخپل ژوند څخه هغه ټول اوباسو مونږ به یومخ دنړۍ څخه پریک شو او زمونږ ټول علم او معلومات به یواځې ترخپلو نیږدو او شاو خوا خلکو پورې محدود پاتې شي

دې اهمیت ته په کتو غربي هېوادو رسنیو ته دیو مستقل ساینس درجه ورکړې او درسنیو په مختلفو څانګو یې نورې څېړنې پیل کړې دهغوی هڅو ته په کتو د دریمې نړۍ هېوادونه اوخلک هم درسنیو په باب بیدار شوې او دېخوا په نسبت یې اهمیت ته زیات متوجه دي

رسنۍ او اسلام:

بیشکه اسلام دفطرت دین دی چې دژوند په ټولو برخو کې یې مسلمانانوته

لارښوونې کړې اسلام له دسترخوان څخه واخله دجهاد تردګره روښانه لارښوونې او احکام لري اسلام دکامل او جامع دین په حیث دژوند په هر میدان کې غوره رهنمائی کړې

درسنیو، صحافت او ژورنالزم دمهم میدان په اړه اسلامي ارشادت او لارښوونې شتون لري ، چې دهغو له مخې درسنیو بنسټیز غرض دادی چې تل رښتیاوو ته په ژمنتیا لرلو نوي او تازه خبرونه خپاره کړي ، دحالاتو، واقعاتوتشریح او تعبیر واقعیتونو په پام کې نیولو سره وکړي ، په ټوله کې یې موخه دخیراو رښتنولی پراختیا او دشراو باطل مخنیوی دی ، دهغه لوري په وړاندې چې دشر خورولو او دمنکراتو ترویج لپاره کار کوي په وړاندې دقلمې مبارزې غږ کوي دعظیم الشان قرآن او احادیثو په رڼا کې دیومسلمان قلموال مسؤلیت دادی چې هغه دالهي رضا ترلاسه کولو لپاره او داخروي نجات او کامیابی لپاره خلک دحق، رښتیاوو او واقعیتونو په لور اوبولي خلکوته په نیکیو، حکم وکړي دبدو څخه یې منع کړي دظالمواکمنو په وړاندې یې دحق او انصاف غږ پورته کړي او هیڅکله دمنکراتو، ناراوو بدو کړو وړو ملاتړ اونکړي هیڅکله دیوچا درواغ رښتیا اونه ګڼي او نه دیو لوري رښتیاوو ته درواغ او وایي

خو متاسفانه چې اوس مهال دنورو برخو(لکه اقتصاد، تعلیم، حکومت) په څېر داسلامي هېوادو دننه رسنی هم دغرب په پیروی کې کارکوي ، دوی هم دغربي رسنیو اصول خپل کړې چې له امله یې رسنیو ډیرې بدې پایلې زیږولې کمپیوټر، انټرنیټ، سټلایټ او نورو دیو اسلام ضد خوښت بڼه غوره کړې له امله یې په لوی شمیر کې اسلامي احکامو او مقرراتونه دسرغړونې مرتکبې ګرځیدلې که مسلمانان دمیډیا په اړه د اسلامي اصولو او حکمونو پیروي ونکړي نو دابه په راتلونکي کې داسلامي کلتور او مسلمانو ټولنو لپاره بدې پایلې ولري

نو ارتیا ده چې مسلمان لیکوالان او ژورنالستان نه یواځې پخپل شخصي- ژوند کې په اسلام عمل ولري بلکې پخپلو کړو وړو او اجتماعي دندو ترسره کولو کې هم ددې خبرې فکر ولري چې دراډیو، تلویزون، مجلو او ورځپاڼو له لارې کوم مواد وړاندې کوي په هغو کې د خدای تعالی نه د ډار، دیانت او په اړه یې اخرت کې دځواب ورکولو احساس هم ولري

نورېبا ....

د القدس قضیه

د امریکا اهداف او د نړیوالو مسئولیت

حسن مومند

دامریکا ولسمشر ټرمپ په ډیر تېزی دهغووعدو دپوره کولولپاره عملي اقدامات کوي کومې یې چې په امریکاکې دولسمشریزوانتخاباتولپاره دکمپاین پرمهال کړی وې .

کموخلکودا ګومان کاوه چې دټرمپ په څېر سړی به هم ګینی دامریکاپه نوم دهغه هېواد ولسمشر شي چې پرټولې نړۍ دباداری خوبونه وینې ؛ د ټرمپ خبرې هم چا دډېر التفات وړ نه ګڼلی اونه چا دافکرکاوه چې امریکابه دومره دبدنامۍ نه ډک اقدامات وکړي کوم چې ټرمپ یادول خو دخلکو دګومانونو برعکس ټرمپ دامریکا ولسمشرهم شو او دامریکا همدې ولسمشردنېک نامۍ اوبدنامۍ د امتیاز پرته دټولوهغوخبرو دعملي کولولپاره ملا هم ترلی ده کومې یې چې دانتخاباتو لپاره دکمپاین پرمهال کړی وې چې بیت المقدس ته دامریکا دسفارت د انتقالولو او د اسرائیلولپاره دپلازمېنې په صفت په رسمیت ددې ښار دمنلوخبره هم یوه له هماغو خبرو وه چې ټرمپ به کوله اودامریکا یهودیانو ته به یې تل دا اطمینان ورکاوه چې دولسمشرکېدوسره سم به خپل سفارت دتل ابیب نه بیت المقدس نقلوم .

بیت المقدس دفلسطین ترټولوزوړ اوسپېڅلی ښار دی انګریزان ورته **Jerusalem** وایې او یهود یې یروشلم بولي پخوا یې په عربي نړۍ کې په بیت المقدس شهرت درلودلو چې زموږ په جنوبي آسیا کې یې خلک لا هم په همدې نوم یادوي خو اوس په عربي نړۍ کې په القدس یادېږي.

دا ښار دمسلمانانو،عیسویانو او یهودیانو درې واړو لپاره په مذهبي لحاظ ډېر مقدس ښاردی.

یهودیان وایې چې ددین ابتداء یې له همدې ځای نه شویده همدا خپله قبله بولي او هرچرته چې وي په عبادت کې همدې لور ته مخ کوي.

یهودیان ادعا کوي چې زرکاله قبل المسیح همدلته حضرت سلیمان علیه السلام ددوئ لپاره یوه عبادت خانه جوړه کړی وه چې وروسته یې په **first temple** یا هیکل سلیماني شهرت وموند؛وایې چې دسلیمان علیه السلام په لاس دجوړې عبادت خانې

درنګېدونه پس همدلته بله عبادت خانه جوړه شوه چې يهوديان يې **second temple** بولي چې ديهوديانو په ويناروميانو هغه دحضرت عيسى عليه السلام له زو کړې ۷۰ کلونه وړاندې ورانه کړی وه.

اوس عاصب صهيونستي دولت دمسجداقصى رنګول اودنړۍ يهوديانو دخواهش سره په دريم ځل دهيکل سليماني په نوم معبد جوړ ول غواړي.

دمسيحيانو لپاره هم دا ښار ځکه مقدس ښار دی چې همدلته حضرت عيسى عليه السلام زېږېدلی دی،همدلته نبوت ورکړل شويدی،همدلته يې دخپل دين تبليغ پيل کړی و او ددوئ دباطلې عقيدې له مخې همدلته ديهوديانو له لورې په صليب رازړول شوی و.

دمسلمانانو لپاره يې خو تقدس بيخي روښانه دی؛مسلمانان دوروستي دين اسلام پېروان دي،دادين دمخکنو دواړو دينونو عيسويت او يهوديت لپاره ناسخ دين دی؛که څه هم اسلام کې په زور دعيسويانو ،يهوديانواونورومسلمانو مسلمانول ردوي ؛ددوئ دعبادت خانو د ورانولو اجازه نه ورکوي او نه هم دوئ دخپل عبادت نه منع کوي خو دالٰهي کلام له مخې الله دوئ مؤمنان نوبولي،عقايد يې ردوي او عبادات يې ناقابل اعتبار بولي نو تقدس هم ځکه يواځې دمسلمانانو دجوماتونو دی او دمسجداقصى تقدس هم پدې حيثيت دی چې دمسلمانانو رومبی قبله ده؛دمعراج په شپه رسول الله صلى الله عليه وسلم دبيت الله نه همدلته راوړل شوی و؛همدلته يې دانبياءکرامو امامت کړی و او له همدې ځايه اسمانونو ته ختلی او دالله تعالى حضور ته بلل شوی و.

نو دمسجدحرام او مسجد نبوي نه پس همدا مسجد اقصى دمسلمانانو لپاره ترټولو مقدس مقام دی او له همدې امله دمکې مکرمې او مدينې منورې نه پس دبيت المقدس مقام ترټولو لوړ دی.

دبيت المقدس دختيځې برخې په اوچت ځای يوه ستره چاريوالي ده چې له پخوا زمانې نه همدې سترې احاطې يا چاريوالی،ته مسجداقصى ويل کېږي چې درسول الله صلى الله عليه وسلم په مکې ژوند کې دمعراج په اړه نازلو شويو آيتونوکې هم په مسجداقصى ياد شويدی.

ددې سترې احاطې ۱۱ دروازې دي چې په ۱۰ دروازو مسلمانان تلل راتلل کوي او يوه دروازه يهوديان دتلو راتلو لپاره کاروي.

په عثماني خلافت کې همدې ټولې چاريوالی ته حرم شريف ويل کېدلو؛ ددې احاطې په جنوبي برخې کې چې کوم جومات دی اوس همدامسجد اقصى بلل کېږي چې بنسټ يې حضرت عمر فاروق رضى الله تعالى عنه دبيت المقدس دفتحې پرمهال ايښی و او اموي پاچاهانو بيا بشپړ کړ ؛ وروسته دا جومات دنورو مسلمانو واکمنانو دحکومتونو پرمهال څو ځل وران او جوړشو.

په عکسونوکې چې کوم اسماني رنګې ګمبزه ښکاري ډېر خلک همدامسجداقصى ګڼي چې داسې نده؛مسجداقصى دهغې چاريوالی،په جنوبې برخې کې دی او دا اسماني رنګه ګمبزه چې قبة صحرة ورته وايې ددې چاريوالی په منځ کې دی.

دا قبة صحرة اموي حاکمانو جوړه کړې وه او بيا را وروسته دا هم څو ځلې ورانه او جوړه شوې او

دعثماني خلافت پرمهال دگمبزې په سر دسرو زرو يوه خولې هم کښنودل شوی وه.

حضرت عیسی علیه السلام چې په فلسطین کې ددین دعوت پیل کړ نو دځایې یهودیانو ترځنګ ورسره رومیانو هم خپل شدید مخالفت ښکاره کړ خوداچې اسمانونو ته دحضرت عیسی علیه السلام دپورته کېدو نه پس هم ددې دین تبلیغ روان و نو ورو ورو دا دین خپور او ریښې یې قوي شوې تردې چې په ۳۱۳ م کې رومي پاچا هم مسیحیت قبول کړ چې ورسره سم ټول بیت المقدس مسیحیت ونیولو او له دې وروسته تر ٦۳۷ پورې دلته دمسحیانو حاکمیت و؛په ٦۳۷م کې چې حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه فلسطین فتح کړ نوتر۱۱۹۹ م پورې پرټول فلسطین او بیت المقدس دمسلمانانو واکمني وه؛ پدې څه دپاسه ځلور نیمو پېړیو کې په مقدسې احاطې کې چې مسجداقصی بلل کېدله دېرې ودانۍ رامنځته شوې وې.

په ۱۱۹۹ م کې دټولې اروپا مسیحانو پربیت المقدس دیرغل کولو لپاره فوځونه راجمع کړل چې رومبي صلیبي جنګ رامنځته او په نتیجه کې یې مسیحانو بیت المقدس قبضه کړ.

صلیبي لښکرو په بیت المقدس کې داسې ستر قتل عام وکړ چې یومسلمان او یهودي ترې هم ژوندي پاتې نه شو او دمسجداقصی په مبارکې احاطې کې یې دوینو رود روان کړ.

صلیبي لښکرو په بیت المقدس کې دمسلمانانو ټول جوماتونه په کلیسایا په عسکري مرکزونو بدل کړل.

پرفلسطین دصلیبیانو حاکمیت تر ۱۲۸۷ م پورې وغزېدلو په ۱۲۸۷ م کال کې صلاح الدین ایوبي رحمه الله تعالی بیت المقدس فتح او پکې بیا یوځل اسلامي حاکمیت راغلو او دمسلمانانو جوماتونه او مقدس مقامات دمسیحیانودقبضې نه را وویستل شول او یوځل بیا آباد شول .

له دې بعد دصلیبي جنګونو په جریان کې څوځلې بیا صلیبي لښکرو بیت المقدس قبضه کړ خو په خپلې قبضې کې یې په ساتلو نه شوتوانېدلی او هرځل ترې دېر ژر بېرته اسلامي لښکرو ونیولو.

په ۱۵۱۷م کال کې بیت المقدس دعثماني خلافت برخه وګرځېده او تر۴ راتلونکو پېړیو پاتې ۱۹۱۷ م پورې همداسې ددې خلافت برخه وه.

په رومبي نړیوال جنګ کې عثماني خلافت دجرمني سره ملګری و؛په جنګ کې جرمني ماتې وخوړه عثماني خلافت هم کمزوری شو ؛ دهمدې کمزورۍ نه په استفادې لویدیځ ددې خلافت پرضد په خپلو دسیسو کې تېزوالی راوست چې په نتیجه کې دا خلافت رنګ او تروا‌ک لاندې اسلامي خاورې یې غربي هېوادونو قبضه کړې چې دفلسطین پاکه خاوره دبرتانې په برخه ورسېده او په دېرې اسانۍ یې اشغال کړه.

ددې رومبي نړیوال جنګ په جریان کې په جرمني،روسې او شرقي اروپا کې دمسیحیانو په لاس دېر یهودیان قتل شول نو له دې سیمو نه غربي اروپا او منځنۍ اروپا ته دېر یهودیان کډه شول چې برتانې ته پکې هم ګڼ شمېر راغلل خو چې دلته ددوئ پرضد په ځایې مسیحیانو کې کرکې شتون درلودلو نو دبرتانې دولت دې هېواد ته دیهودانو په راتلو بندیز

ولګولو خو هغوئ له ناقانونه لارو برتانې ته رانغوتل پیل کړل چې دا دبرتانې لپاره دتشویش وړ خبره وه نو دخپل هېواد نه دیهودیانو دمخ اړولو او ددې ناکاره خلکو نه دخپل ځان پاک ساتلو؛دنړیوالو سرمایه دارو یهودیانو دتوجو راجلبولو؛دټولې نړۍ مسلمانانو ته د درد رسولو او تري دخپلو شکستونو دانتقام اخستلو او په منځني ختیځ کې دخپلو ګټو دخوندیتوب لپاره دیو بدماش لاسپوڅي دولت درامنځته کولو په موخه قابضې برتانې اعلان وکړ چې برتانیه به په فلسطین کې دیو ازاد یهودي دولت درامنځته کولو لپاره لار برابره او پدې اړه به دیهودیانو سره هرډول مرستې وکړي.

دادتاریخ بدنام او کرغېړن اعلان دبرتانې دباندنیو چارو وزیر بالفور په ۱۹۱۷م کال کې کړی و نوځکه په بالفوردیکلریشن ۱۹۱۷م باندې یادېږي.

یهودیانو خو هسې هم د۱۹ مې پېړۍ په وروستۍ نیمایې کې دځان لپاره دیو مستقل یهودي هېواد او دولت درامنځته کولو په موخه د**zionism** په نوم یو تحریک پیل کړی او فلسطین ته یې سترګې خړې کړی وې چې دبرتانې ددې اعلان سره سم دې تحریک نور هم زور واخست او دروسې،جرمني او شرقي اروپا په شمول دنړۍ دګوډګوډ نه یهودیانو دفلسطین لورې ته مخه کړه او دوعدې سره سم قابضې برتانې دفلسطینیانو په ځمکو کې په زور ددې یهودیانو مېشت کول شروع کړل او تراتلونکو ۳۰ کلونو پورې دالړۍ همداسې روانه وساتل شوه؛پدې ۳۰ کلونوکې برتانې یهودیان ښه منظم او مسلح کړل ؛فلسطیني مسلمانان دیهودیانو دمېشت کېدو او دځمکو دغصب په مقابل کې راپورته شو او په مختلفو سیمو کې ددوئ او یهودیانو ترمنځ وسلوالې نښتې هم رامنځته شوې خودا چې یهودیان ښه منظم شوي او مسلح شوي وو نو فلسطیني مسلمانان پرې بریمن نه شول.

برتانیه چې دیهودیانو دعسکري قوت او نظم په اړه مطمئنه شوه او یقین ته یې پرېوته چې یهودیان پخپله دولت جوړولی؛منظم کولی او دټولو عربانونه ځان ساتلای شي نو یې دفلسطین نه دتللو پرېکړه وکړه او ددې سیمې دمستقبل په باره کې یې په کلکه دملګرو ملتونو دادارې نه دپرېکړې غوښتنه وکړه.

په ۱۹۴۷م کې دبرتانې،امریکا او نور لویدیځ دخوښې سره دملګرو ملتونو ادارې خپله داپرېکړه اعلان کړه چې په فلسطین کې به دوه دولتونه رامنځته شي؛لویدیځو سیمو کې چې یهودیان پکې زیات مېشت وو دیهودي دولت جوړ شي او په ختیځو سیمو کې به دعربو مسلمانانو دولت وي او بیت المقدس به دملګرو ملتونو ترکنترول لاندې یوه ازاده سیمه وي.

یهودیانو دملګرو ملتونو دا پرېکړه ومنله خو دفلسطین مسلمانانو او دسیمې عربو هېوادونو دمنځني ختیځ په زړه کې دفلسطیني مسلمانانو نه په غصب شوې خاورې کې دیهودي دولت درامنځته کېدو سره خپل مخالفت ښکاره کړنو هماغه و چې دامریکا،برتانې او نور لویدیځ دپلان سره سم د۱۹۴۸ م کال په مۍ میاشت کې یهودو له خپل لورې په فلسطین کې خپل مستقل دولت اعلان کړ چې دملګرو ملتونو ادارې سمدستي په رسمیت وپېژندلو؛عربي نړۍ ددې دولت دوجود سره عملا مخالفت ښکاره کړ چې په نتیجه کې یې ددوئ او نوي رامنځته شوي اسرائیلي دولت ترمنځ جنګ رامنځته شو خو پکې

عربو ماتې وخوړه او اسرائيلي دولت دځينو نورو سيمو ترځنګ لويديځ بيت المقدس هم قبضه کړ؛دفلسطين نورې سيمې دمصر،شام،لبنان او اردن ترمنځ وويشل شوې نوځکه ختيځ بيت المقدس چې پکې مسجداقصی او نور مقدس مقامات هم وو د اردن برخه وګرځېده؛تراتلونکو ۲ لسيزو پورې حالت همداسې و.

اسرائيلو ته معلومه وه چې دمنځنۍ ختيځ په زړه کې او بيا دفلسطين په ځېر دمسلمانانو لپاره پرسپېځلې خاورې دغاصب اسرائيلي دولت وجود دټولې اسلامي نړۍ او په ځانګړې ډول دفلسطين سره دلګېدلو عربو هېوادونو لپاره دمنلو وړندی نو ځکه يې نظامي ډګر کې ځان ډېر زيات منظم او مجهر کړ او هم يې دخپل نفوس دزياتوالي په موخه دنورې نړۍ نه راتلونکو يهوديانو ته ډېرې زياتې اسانتياوې برابرې کړې چې ورسره په دوه لسيزو کې داسرائيلو په نفوس کې حيرانونکی زياتوالی راغلو.

خوبرعکس عربانو يواځې داسرائيلو دنه منلو او دله منځه وړلو ناړې وهلې او نور يې داسرائيلو نظامي طاقت ته په پام سره هيڅ مناسب تيارى نه درلودلو نو په ۱۹٦۷م کې چې دعربو او اسرائيلو ترمنځ جنګ رامنځته شو داسرائيلو دښه تياري او دلويديځ دحمايت له امله اسرائيلو جنګ وګټلو او دشام او مصر په ځېر دلوی نظامي ځواک لرونکو هېوادونو ديو موټي اسرائيلو په مقابل کې په ٦ ورځني خونړي جنګ کې ماتې وخوړله؛اسرائيلو ټول فلسطين قبضه کړ او په تاريخ کې په ړومبي ځل مسجداقصی او نور مقدس مقامات ديهودو ترقبضې لاندې راغلل.

په جنګ کې دعربي هېوادونو دماتې او دفلسطيني سيمو دقبضې نه پس داسرائيلو ترقبضې لاندې دننه سيمو کې فلسطيني ځوانانو د **P.L.O** (فلسطين آرګنايزيشن) په نوم دازادۍ تحريک پيل کړ بيا په ۸۰ يمې لسيزې کې دشيخ ياسين په لاس په غزې کې دحماس په نوم رامنځته شوې غورځنګ له لورې داسرائيلو پرضد مسلح جهاد هم پيل شو چې ترننه دوام لري خو په نړۍ کې او خصوصاً اولنو ۳ لسيزو کې شهرت يواځې د **P.L.O** و ؛ ددې غورځنګ مشر ياسرعرفات په نړۍ کې دازادۍ علامه ګرځېدلې وه؛هغه په سياسي ډګر کې دفلسطين دازادۍ لپاره ډېرې هڅې کړې وې خو دا چې هڅې يې داسرائيلو تراشغال لاندې سيمو کې وې او لويديځ هم له هغه سره دمنافقت نه کار اخستلو او اسلامي نړۍ يې هغسې ملاتړ نه کاوه ځرنګه چې پکار و نو ځکه يې هڅې ډېرې نتيجه ورکونکې نه ښکارېدې .

هغه له ډېرو هڅو نه پس ايله په ۱۹۷۴ م کې پدې بريالی شو چې عرب ليګ دې ته چمتو کړي چې **P.L.O** دفلسطينيانو دنماينده غورځنګ په صفت وپېژني.

په ۱۹۸۸ م کې ياسرعرفات دفلسطين خپلواک دولت اعلان کړ او پخپله يې ولسمشر شو؛داعلان له مخې دفلسطين عرب مېشتې سيمې ددې دولت برخه او بيت المقدس يې پلازمېنه وه؛ددې اعلان لاملونه دوه و ، يو خو دا چې عرب ليګ **P.L.O** دفلسطيني مسلمانانو دنماينده تنظيم په صفت پېژندلی و او بل دا چې دملګرو ملتونو اداري له لورې هم د ۱۹۴۷ م په اعلان کې دفلسطينيانو لپاره ازاد دولت منل شوی و.

ددې دولت ترقبضې لاندې په صحیح معنو کې یوه لوښت ځمکه هم نه وه خو ټولې اسلامي نړۍ او ګڼو نااسلامي هېوادونو په رسمیت پېژندلی وچې ورسره سم یاسر عرفات خپلې سیاسي هڅې هم تېزې کړی وې او دفلسطین دستونزې دحل لپاره دسوله یزو هڅو او مذاکراتو په نوم هر جریان کې شریک شوی او دفلسطینیانو په نمایندګۍ یې دنړیوالو سره ګډ ټرونونه هم لاسلیک کړی و چې په ۱۹۹۳ م کال کې رامنځته شوی داوسلو ټرون ته نړیوال دیاسرعرفات دلویې لاسته راوړنې په نظر ګوري؛پدې ټرون کې اسرائیلو په غزې او لویدیځې ټرنګې کې دفلسطیني مسلمانانو لپاره کورنۍ خپلواکي ومنله که څه هم په عسکري لحاظ دا دواړه سیمې داسرائیلو سیمې وې خودا چې دفلسطیني دولت لپاره لږ ځای په لاس ورغلو دا یې هم دځان لپاره غنیمت ګڼلو.

فلسطیني اداره که څه هم اسرائیل په رسمیت نه پېژني خو داغوښتنه لري چې اسرائیل باید په ۱۹٦۷ م نیول شوې ټولې سیمې پرېږدي ترڅو دفلسطیني دولت برخه وګرځي ؛بیت المقدس ددې هېواد پلازمېنه شي او دفلسطین نه کډه شویو ټولو فلسطینیانو ته ببرته دراتلو اجازه ورکړای شي.

یهودیانو دلویدیځ په مرسته خپل دولت په عسکري لحاظ ډېر مضبوط کړ تردې چې ډېر شنونکي فکرکوي چې اسرائیل اوس اتومي طاقت ګرځېدلی دی او بل لور ته یې دنړۍ په مالي ادارو قبضه ده نو ځکه یې لویدیځ هېوادونه او په ځانګړي ډول امریکا خوشاله ساتي او هره ناروا یې روا ګڼي چې دامریکا دولسمشر ټرمپ اوسنی اعلان هم دیهودیانو دخوشالولو هڅې دي.

نو که څه هم ددې اعلان په رد کې دامنیت شوری په دائمي او نادائمي ۱۵ غړو کې ۴ غړو دا اعلان رد او دفلسطیني مسلمانانو په حمایت کې رای ورکړې چې امریکا ویټو کړ.

بیا دملګرو ملتوپه جنرال اسمبلۍ کې هم امریکا دسخت شرم او ذلت سره مخامخ شوه .

خوماته داسې نه ښکاري چې ټرمپ به دخپلې خبرې نه ټېر شي.

دټرمپ حرکاتوته چې سړی نظروکړي نوډېر احمق ښکاري خورښتیاداده چې هغه ډېر لوی مکار او د اسلام اومسلمانانوسره په دښمنۍ کې ډېر مخلص ، ضدي اودواک اوقدرت سخت حریص سړی دی ؛ قوي احتمال دادی چې هغه به دخپلې واکمنۍ دمودې دپوره کولونه وړاندې دامریکا سفارت بیت المقدس ته انتقال کړي چې پدې سره به خپل ګڼ اهداف ترلاسه کړي ؛ دټولې نړۍ مسلمانان به سخت ودردوي ؛ منځنی ختیځ به ډېرزیات بدامنه شي چې همدادامریکاپلان هم دی اودامریکا یهودیان اونورې ټولې اسلام دښمنې کړئ به دټرمپ نه راضي اوپه راتلونکو انتخاباتو کې به یې بیا هم بریالی کړي .

داکاربه نړۍ ډېره زیاته بدامنه اوامریکا زیاته بدنامه کړي خومتأسفانه چې ټرمپ داسې څوک ندی چې دنړۍ دبدامنۍ اودامریکادبدنامۍ څه پروا وساتي.

دا اوس دنړۍ دمشرانومسئولیت دی چې دټرمپ ددې اقدام په مقابل کې کلک ودرېږي او د نورو لویو بدامنیو نه دنړۍ دژغورلوپه هکله خپله ژمنتیا وښایې .

آیا امریکا به خپلې ګټې

دافغانستان له ارامۍ او امنیت قربان کړي!؟

جمیل - مجاهد

درواني میاشتي (دسمبر) په ۲۱ نیټه دامریکامرستیال ولسمشر« مایک پنس » افغانستان ته یوناڅاعلان شوی اوغلچکی سفروکړ، تردې چې دکابل رژیم مشران یې دبګرام په هوایي اډه کې ولیدل اوپه غوږونوکې یې دامریکایي ګټودخوندیتوب ټکي وروځځول

پنس په خپلوخبروکې دټرامپ له جنګي ستراتیژی دفاع وکړه اوپه افغانستان کې یې دهوایي بمباریوډیروالی دنوموړي ستراتیژی جدیت اوده په اندموثریت وبالـه ، نوموړي دپاکستان هیواد تر کلکو نیوکولاندي راووست چې دامریکا ضد خلکو حمایه کوي اوڅه چې امریکاورته وایي هغسي ګامونه نه اخلي

خودسیګار په ګډون ګڼي تحقیقاتي اداري باورلري چې دټرامپ ستراتیژی لدې پرته چې دهوایی بمباریوپه نتیجه کې یې عاموافغانانوته درنه مرګ ژوبله واړوله په طالبانویې مخامخ کومه اغیزه نه درلوده ، سیګار په خپل راپورکې داهم وئیلي چې په ۲۰۱۷ کال کې کابل رژیم دافغانستان په ۴۰ فیصده برخه ولکه درلوده په پاتي حصه طالبان مسلط اویاپې وربانـدي دپام وړاغیزدرلود

افغانستان ته دامریکادمرستیال ولسمشر سفراودپاکستان ضدځرګندوني اوپه عین حال کې دهندوستان ستاینه داحقیقت ښه واضح

اوبرملاکړ چې امریکادسیمي اوافغانستان په اړه خطرناک اومتشنج عزائیم لري .

په اصل کې دافغانستان په اړه دټرامپ ستراتیژي دهغې تګلاري اوپلان عکاسي اوتمثیل ده چې امریکایي له منځي ختیځ څخه نیولی ترجنوبي اوغربي اسیااوهم له شرقي اسیاڅخه ترجنوب ختیځي اسیاپوري تطبیق اوپلي کول غواړي ، هڅه لري دسیمي اقتصادي اوستراتیژیک وسائیل اومسائیل په اختیارکې واخلي اوپه خاص ډول چین اوروسیه دیته پرینږدي چې اسیاکنټرول کړي نوامریکاپه لټه کې ده چې ددغه رقابت اوزورازمایی لپاره افغانستان دسیالی میدان جوړکړي

په افغانستان کې دټرامپ دمرستیال توندوخبرواودافغانستان له ستیجه پاکستان اوسیمي ته ګوت څنډنه داخبره په اثبات ورسوله چې امریکادافغانستان له سطحي اوماحول څخه دلوړپروازاهداف لري

امریکادسیمي دناارامه ولولپاره متې بډوهلي چې ددداعش پروژه په افغانستان کې تقویه اوپراخه کړي اوله همدې ځایه چین ، روس ، ایران او پاکستان ته ددداعش ترنامه لاندي دتشنج ، ګډوډیو اوجګړو لمبي او تاوونه ورصادر کړي .

دچاروماهرین باورلري چې امریکایان به هیڅکله هم خپلي لوړي اومهمي ګټي چې هغه دچین ، روسیی ، پاکستان اوایران مهارول دي دافغانستان دسولي اوارامي څخه قربان نکړی

که امریکاغوښتلی چې په افغانستان کې دي امن اوکراري راشي اوداسې یوه اداره دي واکمنه وي چې دفساداونوروناورینونومخه دی ونیسي داکاریې په تیرو۱۷ کلونوکې کولای شوی ،داچې په دغه اوږده موده کې دافغانستان وضعیت له یوې نه بلې ته دخرابیدواوتباهی خواته ولاړ عمده دلیل همداوو چې امریکایانونه غوښتل اوددې لپاره ندی راغلي چې افغانان دې دامن اوثبات مخ وګوری

امریکایان دخپلوهمدغوافغان دښمنه عزائیموله مخې په دې سربیره چې ددداعش فتنه یې افغانستان ته راداخل کړه دخپلو ذلیلو غلامانوپه توسط یې یوقوم دبل قوم او یو ملیت یې دبل ملیت تجریدولواومقابلي ته ودراوه ، ترڅو د افغانانو ترمنځ دملي وحدت شیرازه له منځه ولاړه شي اوهر قوم او ملیت خپل نجات اوبرتري په دې کې ولټوی چې دامریکایانو ترڅنګ ودریږی او په اشغال اوشتون یې سترګي پټي کړي .

د کال اوښتون
له ځان سره څه پیغام لري؟

حبیب مجاهد

یو بل کال تېر شو، د نړۍ په لراوبر کې د نوي میلادي کال په مناسبت جشنونه جوړیږي، اورلوبې کیږي او نوې کلیزې بازار ته راوځي. که یوې خوا ته عیسوي نړۍ د نوي میلادي کال د رابریدو په خوښیو کې غرقه ده، بل اړخ ته په اسلامي دنیا دغم او ماتم وریځې خپرې دي. د شام، عراق، افغانستان، لیبیا، یمن، برما او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دمسلمانانو غمونه پر خپل ځای چې تازه په تازه ورباندې د بیت المقدس د رسمي اشغال ویرجن داستان هم د پاسه شو. دې حوادثو مسلمانان له یوې مخې له روحي ځور او اندیښنو سره مخامخ کړي دي.تر دې چې ځینې خو یې د مطلقې ناامیدۍ او روحي شکست تر پولې رسولي دي.

خو د کال بدلون له ځان سره یو بل امید بښونکی پیغام هم لري. دا چې شپه او ورځ تیریږي، که څه هم د اوښکو په بدرګه او د ویر له ساندو سره همغاړې وې خو په تلو تلو کې دا هیلې تر شا پریږدي چې د دې جهان هر وړ حالت او امتحاني مرحله تیریدونکې ده.د غم شپه که هر څه اوږده وي، دحزن کال که هر څومره ستونزمن وي، د خزان یخ که هر څو زمولوونکی وي خو بالاخره تیریږي، پناه کیږي او ځای د پسرلي عطرورینو وږمو ته پریږدي.

د زمانې دغه بدلون او د امتحاني مرحلو تیریدل اسلامي امت ته هغه الهي پیغام ورپه زړه کوي چې (ولا تهنو ولا تحزنوا . . .) مه کمزوي کوئ او مه خپه کیږئ . . . دا ورځې تیریدونکي دي، الله تعالی دا ورځې د د بندګانو تر منځ اړوي را اړوي، کله د غم او کله د ښادۍ ورځ وي، کله د فتحې او کله د شکست مرحله وي.

په اسلامي امت اوسنی راغلی ازمویښت نه لومړنی دی او نه هم وروستنی، بلکې مسلمانانو په خپل څوارلس سوه کلن تاریخ کې تر دې ستر مصائب لیدلي او زغملي دي. کله چې د جزیرة العرب ټول مشرکین او اهل کتاب د مسلمانانو په خلاف سره یو لاس شول، په مدینه منوره یې هجوم ورووړ، دا خبره محتمله وه چې په مدینه کې د اسلام نوې روښانه شوې شمع خاموشه کړي، مګر مسلمانان ناامیده نه شول، هغوی د نهیلیو په توپان کې د امید ډیوې روښانه وساتلې، لاس په کار شول، د کفري یرغل د مخنیوي لپاره یي خندق ویوست او د کفارو لښکر یې تم کړ. تر دې چې وروسته الله تعالی بشپړه فتحه ورنصیب کړه او له امتحاني مرحلې بریالي ووتل.

له هغه وروسته کله چې صلیبي دنیا له مذهبي شعارونو او جنګي جذبو سره د مسلمانانو په خلاف راپورته شوه، صلیبي یرغلونه پیل شول، څو سوه کاله یي جریان درلود، بیت المقدس صلیبیانو ونیو او په لسګونو زره مسلمانان یي په یوه ورځ قتل عام کړل، بیت المقدس لسګونه کاله د اسلامۍ نړۍ له وجود څخه بیل شوی و، خو مسلمانانو د نا امیدۍ په ځای د امید لمن ټینګه کړه، د توان په اندازه یي مقابله جاري وساتله ، تردې چې الله

تعالی د ایوبي په شان فاتح مشر په دې امت ولوراوه او لومړنۍ قبله يې بيرته ازاده کړه.

ورپسې کله چې له ختیځ څخه د تاتاري جنګیز فتنه راپورته شوه، سمرقند او بخارا يې وسوځول، له خراسان تر عراقه يې اسلامي نړۍ د اور او وینو په سیلاب کې غرقه کړه، په سلګونو زره مسلمانې میرمنې يې مینځې کړې، ماشومان يې غلامان کړل، باعزته مسلمان اولسونه يې توهین او تعذیب کړل، مدارس او مساجد يې وسوځول او د اسلامي حاکمانو له ککرو يې منارې جوړې کړې، خو الله تعالی بالاخره هغه د چنګیزي یرغل امتحاني مرحله هم تېره کړه، د سلطان قطز په شان د امت میړنیو غازیانو د چنګیز پیروانو ته شکست ورکړ او اسلامي نړۍ يې له اشغال څخه خلاصه شوه.

له پخوانیو امتحاني مرحلو وروسته په نړۍ وخت کې مسلمانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له ورته امتحاناتو، سختیو، مشقتونو او ابتلاوو سره مخامخ شوي دي.یوه پیړۍ وړاندې چې د افغانستان، او منځني ختیځ له محدودو ځمکو پرته ټوله اسلامي نړۍ د غربي استعمارګرو په دام کې ښکیل وه، هغه مرحله چې مسلمانان له یو اړخیز فکري او تبشیري یرغل سره مخامخ او د ځوان نسل د عقائدو د زوال خطر يې موجود و. خو الله تعالی هغه تش لاسي مسلمانان هم وساتل، بلکه دا چې اسلامي ویښتابه او علمي تنویر نور هم زیات شو.

په استعماري دوره کې د مصر، المغرب، لبنان او نورو اسلامي هیوادونو په مسلمانانو داسې حالت هم راغلی چې په زرګونو ښځو کې به یوه هم محجبه نه پیدا کیدله، بلکې ټولو به غربي لباس اغوست او له خپل دیني اصالت څخه به ناخبره او بیګانه وو، مګر نن سبا لله الحمد که هر څومره مشکلات، هجرتونه او سختۍ شته، خو مسلمانان د هر وخت په نسبت له دین څخه آګاه دي. خپل دوستان او دښمنان پیژني. خپل او پردي ارزښتونه سره بیلولای شي او په آسانه د عقیدوي دښمنانو په دام کې نه لویږي.

نو مسلمانه وروره !

که هر څو ستړی او ستومان يې، که هر څو ځپل شوی او په آزمون کې واقع يې! خو بیا هم د الله تعالی له رحمته مه ناامیده کیږي. اوس هم هماغه رب لرو چې ابراهیم علیه السلام يې د نمرود په اور کې وساته او موسی علیه السلام يې د فرعون له لښکره خلاص کړ.

هغه دین چې مور وربانديې باور لرو، هغه عقیده چې مور په خپلو زړونو کې ساتلې ده او هغه لاره چې مور د خپل ژوند لپاره انتخاب کړې، هغه په دې ارزي چې د پاللو لپاره يې دغسې تکالیف برداشت شي. دا لاره له لویه سره د هوسونو او دنیوي لذاتو لاره نه ده، بلکې د تکلیفونو او سختیو د برداشت لاره ده. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایي: حفت الجنة بالمکاره . . . جنت په سختیو کې پټ دی.خو په دې هم باور ولره چې سختۍ تل ترتله نه وي، بلکې لکه شاعر چې وایي :

لابد لليل أن ينجلي

و لا بد للقيد ان ينكسر

مطلب دا چې شپه به ضرور یو وخت رنا کیږي او زولنې به خامخا یو وخت ماتیږي.لکه څنګه چې کال تیر شو او د کال شپې سبا شوې، دغسې به د اشغال شپې هم الله تعالی سبا کړي او د کفري ستم څنځیرونه به ټوټه ټوټه کړي.

و ماذلک علی الله بعزیز

د جنګي مجرمینو ترشا څوک دي؟!

سید شریف

افغانستان کې مختلف قشرونه او جهتونه د جنګي جنایتکارو دمحاکمې غوښتنه کوي،حتی هغوی هم د جنګي مجرمینو محاکمه کول غواړي چې خپله یې هم یو وخت دجنګي مجرمینو په رول کې دولس په سر، مال او عزت لوبي کړي دي.

افغانستان کې دکابل رژیم د لومړي مرستیال جنرال دوستم په څېر جنګي مجرمین هم شته چې له تېرو څه کم څلویښتو کلونو راهیسې- دولس په وینو او غوښو شخوند وهي،د شوروي یرغلګرو د پلي عسکرو په توګه یې دافغان ولس وینې توی کړې، بیا دخپلمنځي جګړو په مهال چې څه رنګه وحشت په وس پوره وو، تکرار یې کړ.

وروسته بیا د امریکا یې یرغلګرو تر وزرونو لاندې پر جنرال دوستم سربیره د جنرال رازق په شان داسې جنایتکار وپالل شول او زیږول شول چې نه یې پر ښځو رحم وکړ، نه پر بوډاګانو او ماشومانو، د خلګو کورونه یې وسوځول، مالونه یې چو کړل،په زرګونو ولسي- وګړي یې بندیان، شکنجه او کلونه کلونه په تورو زندانونو کې بې محاکمې شهیدان اومعلول کړل.

څه موده وړاندې دملګرو ملتونو د ربړوني ضد کمېټې راپور خپور کړ، چې داسې شواهد یې ترلاسه کړي چې دکندهار امنیه قوماندان جنرال رازق شخصي زندانونه لري او نومورې خپله مستقیما د بندیانو په شکنجه کولو کې لاس لري،راپور زیاتوي چې :دجنرال رازق په مشري پولیسو خلګ اختطاف کړي او بې له قضایي اجراګانو یې وروسته مړي مونډل شوي دي. دغه راز د رازق وسله وال زندانیانو ته بریښنایي شارټونه ورکوي، تناسلي الې یې کوتي،په زور یې معدې ته اوبه پمپ کوي اوبې محاکمې یې زندۍ کوي.

پوښتنه داده چې څوک به جنګي مجرمین محاکمه کوي؟، ځیني خلګ په شعوري او لاشعوري توګه له یرغلګرو څخه د جنګي جنایتکارو دمحاکمې هیله لري، خو دې ته پام نه کوي چې همدا مجرمین چا دافغان ولس پر سر تحمیل کړل؟

چا یو واربیاپه وسلو سمبال کړل؟

چا دپیسو او بیا حیثیت خاوندان کړل؟

خبره ډیره روښانه ده، همدا اشغالګر و د افغان ولس هغه اجرتي او مسلکي قاتلان چې اسلامي امارت شړلي وو، یو ځل بیا راوستل او دافغان ولس برخلیک یې ددې نااهلو په لاس کې ورکړ، نو له یرغلګرو د جنګي مجرمینو دمحاکمې هیله اوغوښتنه کاملایوه بې ځایه غوښتنه ده.د جنګي جنایتکارو محاکمه کول او له منځه وړل یوازې د مجاهدینو په ملاتړ سره ترسره کیږي، ځکه مجاهدینو دمجرمینو او یرغلګرو د شړولو او د اسلامي نظام د نفاذ لپاره مبارزه پیل کړې، نو د مجاهدینو سره په همکاری او ملاتړ د ځان، مال، عزت او اسلامي شعایرو ساتنه کیدای شي.

په سیاسي ډګرکې

د امریکا دا ستر شکست څرنګه ممکن شو؟

حسن زوی

شاعر ښه ویلي دي چې :

ماکل مایتمنی المرأ یدرکه+تجری الریاح بمالاتشتهی السفن

دروانې دسمبر میاشت په ۲۱ مې نېټې چې دملګرو ملتونو په جنرال اسمبلۍ کې امریکا دکوم تاریخي شکست سره مخامخ شوه یونیمه لسیزه وړاندې دامریکا دداسې شکست په اړه چا تصور هم نه شو کولای.

دامریکا دولمسمشر ټرمپ له لورې دغاصب اسرائیلي دولت لپاره دپلازمینې په صفت دبیت المقدس په رسمیت پېژندلو او دتل ابیب نه بیت المقدس ته دامریکا دسفارت دنقلولوداعلان په مقابل کې دترکې،پاکستان او یمن له لورې وړاندې شوي قرداد ته چې دنړۍ ۱۲۸ هېوادونو دباور رایې ورکړې نو د ملګرو ملتونو په جنرال اسمبلۍ کې په ړومبي ځل دامریکا دیو ولسمشر پرېکړه په دومره قاطع اکثریت رد شوه.

درایې ورکولو پرمهال د ۳۵ هېوادونو نمایندګان غیرحاضر وو او یواځې د۹ هېوادونو نمایندګانو دامریکا په حق کې رایې ورکړه.

سره له دې چې ټرمپ دنړۍ ټولو هېوادونو ته دا ګواښ کړی و چې زموږ خلاف دووټ اچونکو امداد به بند کړو او څوک چې زموږ دحکم سره مخالفت ښکاره کړي هغه به دخپلې نافرمانۍ سزا وموميِ خو دنړۍ۱۲۸هېوادونودټرمپ ددې ګواښ هیڅ پروا ونه ساتله او ښه په نره یې دامریکا دظلم اونا معقولیت نه ډک دا اقدام رد کړ.

په زړه پورې خو داده چې په جنرال اسمبلۍ کې ددې پرېکړه لیک دوړاندې کولو نه ۳ ورځې وړاندې چې دملګرو ملتونو په امنیت شورۍ کې ددسمبر په ۱۸ مې نېټې دمصر له لورې کوم پرېکړه لیک وړاندې شوی و نو دجاپان ،فرانسې،برتانې ،اوکراین او ایټالې په څېر دامریکا

اتحادي هېوادونو هم ددې پرېکړه لیک په حق کې ووټ اچولی و خو داپرېکړه دلته امریکا ویټو کړ.

بې له شکه چې دنړۍ دټولو مسلمانانو لپاره ددریم ترټولو مقدس مقام په اړه دامریکادا پرېکړه که له یوې خوا ډېره دظلم او تکبر نه ډکه ده نو بل لور ته پرډېر حماقت او ناعاقبت اندېشۍ هم ولاړه ده چې له امله یې په سیاسي ډګرکې امریکا دسختې شرمونکې ماتې سره مخامخ شوه.

که موږ لږ ۱۶ کلونه وړاندې ولاړ شو نو وینو چې دامریکا یوبل ولسمشر جارج ډبلیوبش ددې نه هم دظلم،وحشت او حماقت نه ډکه پرېکړه کړې وه خو هغه مهال په نړۍ کې هیڅوک داسې نه و چې دامریکا دپرېکړې سره یې خپل مخالفت ښکاره کړی وای.

په ۲۰۰۱م کې امریکا دیوولسم ستمبر پېښه بهانه کړه او د دوه دنګوودانیو او ددوئ په وینا پدې کې دوژل شویو خواوشا ۳ زرو تنانو دانتقام اخستلو په مقصد یې دافغانستان په نوم دیو خپلواک هېواد دلوټې لوټې کولو،ددې هېواد دیو مشروع حاکمیت درانسکورولو او دلته دسونو زرو انسانانو دوژلو پرېکړه وکړه حال دا چې دې حکومت او دې ملت ددې پېښې سره هیڅ تراو نه درلودلو.

دافغانستان اسلامي امارت له یونه زیات ځلی امریکا ته دمذاکراتو دعوت ورکړ او ددې پېښې سره دافغانستان دتراو دادعا په اړه یې ورنه ثبوتونه وغوښتل خو امریکا دافغانستان دې غو ښتنې ته التفات کول هم اړین ونه ګڼل او پرافغانستان له یرغل پرته بل هیڅ شي ته تیاره نه شوه.

بش داسلام او مسلمانانو پرضد صلیبي جنګ اعلان کړ او نړۍ ته یې یواځې همدومره ګوابښ وکړ چې دنړۍ هېوادونه به یا زموږ سره ملګري وي او یازموږ ددښمن سره.

بس دبش همدا ګوابښ و چې په مقابل کې یې ټولې نړۍ سرښکته کړې؛دنړۍ په هېوادونو کې یو هم دامریکا ددې نامعقولې پرېکړې سره خپل مخالفت ښکاره نکړ.

دنړۍ هېوادونه یادامریکا په مشرۍ کې دصلیبي لښکر برخه وګرځېده او یاهم پدې جنګ کې په لږه یا زیاته اندازه دامریکا مرستندویه وګرځېدل.

دنړۍ کمزورو هېوادونو خو هسې هم دامریکا دبدماشۍ په مقابل کې سرونه ټیټ کړي وو او خپله کمزوري یې ددې کار لپاره خپل مجبوریت ګڼلو خو دنړۍ هغه ستر هېوادونه چې نن یو ځل بیا ځانونه نېغ کوي او په مختلفو ډګرونو کې دامریکا مقابل ښکاري پکې یو هم دامریکا نه دمعقولې لارې دخپلولو غوښتنه ونه شوه کړای او نه یې دا وویل چې که دمذاکراتو له لارې ستونزه حل کېدای شي نو یو ځل بیا په جنګ کې دنړۍ د اخته کولو او دیو بې ګناه هېواد او ولس پرضد ددې دومره سترې لښکر کشۍ څه اړتیا ده؟

نو دامریکا په مقابل کې ۱۶ کاله وړاندې دا ستره بزدلي او دنړۍ اوسنی جرأت دبې حده لوي بدلون نښه ده.

اوس پوښتنه داده چې دادومره لوی بدلون ولې او څرنګه رامنځته شو؟

زه فکر کوم چې نور خو پرېږده کې پخپله دامریکایانو نه هم پدې اړه وپوښتل شي نو هر انصاف خوښونکی امریکایې به بې له سوچ او فکر کولو دا جواب ورکړي چې دا دافغانستان په غرونو او میدانونو کې دطالبانو په مقابل کې دامریکا دتاریخ په ترټولو اوږد او تاواني جنګ کې دامریکا دشکست له امله.

عام امریکایان خو پرېږده دامریکا اوسني او پخواني هغه واکمنان به هم همدا خبره کوي کوم چې دطالبانو په مقابل کې دامریکا دشکست اعترافونه کوي.

دا اوس یومسلم حقیقت ګرځېدلی دی چې دامریکا ددې دومره ستر تنزل یواځنی سبب په افغانستان کې شکست نه وای خوړلی نن به دامریکا په مقابل کې دنړۍ موقف د۲۰۰۱م دموقف نه هم ډېر کمزوری وای

هدف دا ندی چې ګینې موږ دامریکا په مقابل کې دنړۍ اوسنی موقف بې ګټې بولویاې خلاف یو؛ موږ په ترکې کې داسلامي نړۍ پرېکړو او دملګرو ملتونو په جنرال اسمبلۍ کې دنړۍ جرأت ته دقدر په نظر ګورو؛دا دفلسطین دمسئلې په اړه په سیاسي ډګر کې دامریکااو اسرائیلو پرشا ښه قوي ګوزار او دامریکا له لورې پرنړۍ دخپلو نامعقولو او حماقت نه ډکو پرېکړو په مقابل کې په معقول موقف دودرېدلو ښه ابتداء بولو او پدې هرڅه اعتراف کول خپل اخلاقي مسئولیت ګڼو.

خودنړۍ نه هم همداهیله لرو چې له دې نه پس به دخپل اخلاقي مسئولیت دادا کولو او پرحقایقو داعتراف کولو جرأت وکړي.

دطالبانو دسترو او مسلسلو قربانیو او معقول دریځ له امله چې امریکا تردې سرحده راورسېده نو موږ له اسلامي اوناسلامي ټولې نړۍاو په ځانګړي ډول دسیمې دهېوادونو نه دا تمه لرو چې دامریکا دشکست پدې اصل اسبابو به سترګې پټې نکړي او څرنګه چې نړۍ دبیت المقدس په اړه دامریکا نامعقوله پرېکړه ښه په جرأت سره رد کړه همداسې به دافغانستان په اړه دامریکا ټولې نامعقولې پرېکړې هم رد او داسلامي امارت معقول موقف به تائید کړي.

د تعصب او قوم پرستي شرعي حيثيت

مولوي عاطف احمد

د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له وړاندوينې سره سم چې په آخري زمانه کې ګناهونه دومره عام شي، چې له امله به يې په دين عمل کوونکی داسې وي لکه چا چې د اور سکروټه په لاس کې نيولي وي. يو له هغو ګناهونو چې نن سبا ټول اسلامي امت د خواصو په شمول په کې اخته دی د تعصب او قومپالنې ګناه ده. او د افسوس ځای خو لا دادی چې ډيری خلک يې ګناه نه بولي. او په روایاتو کې راځي چې الله تعالى هغه کس ته ډير په قهر کيږي چې ګناه معمولي ورته ښکاريږي. نو ددې لپاره چې له دې خطرناکې ګناه وژغورل شو، نو لازمه داده چې تعصب وپيژنو، ځکه بعضې کسان له قوم سره خيرخواهي ته هم تعصب وايي او کوښښ کوو چې د قومپرستي ګناه او حرمت له قرانکريم، احاديثو او عقل له نظره وڅيړو.

د تعصب لغوي معنى

تعصب په لغت کې په مختلفو معنى ګانو راغلى دى. ۱ - پټې ټرل. ۲ - له عصبيت څخه کار اخيستل. ۳ - سردار او مشر جوړيدل او داسې نورې معنى ګانې. . .

د تعصب اصطلاحي او شرعي تعريف

د تعصب شرعي معنى او تعريف پيغمبر صلى الله عليه وسلم داسې بيان کړی دی(أن تعين قومک على الظلم . رواه أبوداود- مشكوة ص ۲۱۸ ج ۲) ترجمه: تعصب او قومپالنه داده چې په ناروا کې د قوم لاسنيوی وکړي.

د تعصب او خيرخواهى په منځ کې فرق

په حديث شريف کې راغلي، سراقه بن مالک بن جعثم فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مورِ ته دنصيحت په وخت وفرمايل: خيركم المدافع عن عشيرته مالم يأثم. . . رواه أبوداود.ترجمه: ستاسو څخه هغه څوک خير دی چې له ګناه پرته په نورو شيانو کې دقوم دفاع وکړي. يعني د مشکلاتو په مهال يې ملاتړ وکړي. له حديث شريف څخه معلومه شوه چې له قوم سره په روا کار کې مرسته کول تعصب نه بلکې د خير کار دی.

د تعصب اقسام او ډولونه يې

د تعصب بنسټ او بنياد په دوو شيانو ولاړ دی. اول: تکبر . دوهم: حسد او کينه. . . متکبر کس ځان تر نورو لوړ او برتر ګڼي او متعصب کس د لاندې ذکر شويو شيانو له امله په تعصب اخته کيږي.

اول : د نژاد له وجې.

دوهم: د رنګ او ښايست له وجې

دريم: د ژبې له امله

څلورم: د وطن له امله

پنځم : د کمال له امله

حاسد کس د نورو د نعمتونو د ختميدلو په لټه کې وي. په متعصب کې همدا خصوصيت پروت دی.

د تعصب حرمت د قرانکريم له مخې

الله تعالی فرمايي: فلا تزکوا انفسکم هو اعلم بمن اتقی. سورة النجم ۳۲. ترجمه: د خپل ځان تصفيه او ښه والی مه بيانوئ. ځکه الله تعالی ته تقوا دار معلوم دی. د همدغه څخه که د تعصب حرمت معلوميږي ورسره په څنګ کې د تصوف علماء کرام دا استدلال کوي چې خپل ځان نيک بلل حرام او ګناه کبيره ده. نو متعصب په ګناه کبيره کې مبتلا دی. خو بيا هم ښښنه نه غواړي.

همدا رنګه الله تعالی فرمايي: و من آياته خلق السموات والارض واختلاف السنتکم و الوانکم. سورة الروم ۲۲ آيت. ترجمه: د الله تعالی د قدرت له نښانو څخه يوه نښه داده چې ستاسو ژبې او رنګونه سره بېل دي. علماء کرامو ليکلي چې د رنګونو او ژبې داختلاف مقصد دادی، چې مخلوق د رب تعالی د دغه ستر خلقت او حکمت څخه استفاده وکړي چې په ايمان بالغيب کې يې ښه زياتوالی او محکموالی راشي. مګر افسوس مخلوق د دې پر ځای چې عبرت او پند ترې واخلي په سخته ګناه کې مبتلا دی.

په بل آيت کې راځي: انماالمؤمنون اخوة . . . ترجمه: ټول مسلمانانو سره وروڼه دي. مطلب دا چې د اسلام له برکته قومي، نژادي، وطني، لساني او د رنګ له امله فرق هيڅ اعتبار نلري. بلکې که د الله تعالی په دربار کې مقبول عمل وي اوبس.

د قومپرستۍ حرمت د آحاديثو په رڼا کې

اول: حضرت جبير بن مطعم رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چې ويي وفرمايل: ليس منا من دعا الی عصبية وليس منا من قاتل عصبية و ليس من مات علی عصبية. رواه ابوداود. ترجمه: څوک چې عصبيت يعني قومپالنې ته دعوت چلوي، ياد عصبيت لپاره جنګيږي او يا هم په دغه تعصب باندې مړ شي دا زموږ يعنی د مسلمانانو له ډلې څخه نه دی.

که نور هيڅ بل حکم نه وای بس همدغه يو روايت هم د تعصب د حرمت لپاره کافي و. دومره سخت وعيد په کې راغلی دی چې په اوريدو يې د انسان عقل په حيرت کې واقع کيږي.

دوهم: رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعصب په هکله یوه داسې جمله ویلې ده چې هر عاقل له لږ فکر کولو وروسته دې نتیجې ته رسیدلای شي چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له دې عمل څخه څومره نفرت کېده. فرمایي: دعوها فانها منتنة ... دا د تعصب او قومپالنې خبره پریږدئ، دا بدبویه نعره ده.

نبي علیه السلام د تعصب نظریه څنګه وځپله؟

کله چې په سیرة النبوي باندې څېړنه کتنه وکړو نو به راته واضحه شي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جاهلي تعصب د ختمولو او اسلامي اخوت د ترویج لپاره داسې اساسي اقدامات وکړل چې تاریخ یې مثال نلري. لکه:

۱ــ د مهاجرینو او انصارو تر منځ د مواخات رامنځته کول او د ورورګلوی فضاء جوړول.

۲ــ حضرت بلال رضی الله عنه چې یو غیر عرب و مؤذن جوړول.

۳ــ حضرت سلمان فارسي، صهیب الرومي او نورو عجمو صحابه کرامو ته پرته له تبعیض او توپیر څخه په لوړ منزلت قائلیدل.

۴ــ د عربو د بیلابیلو قبیلو تر منځ پخوانی دښمنی ختمول، هغوی ته قومي او قبیلوي عصبیت د یوه جاهلانه مرض په حیث معرفي کول او هغوی ترې منع کول.

۵ــ د هر قوم، رنګ، ژبې او سیمې سره د ټرلیو صحابه کرامو سره یو شان چلند کول او تبعیض فتنه محو کول.

د تعصب تاوانونه په لاندې ډول خلاصه کولای شو.

۱ ــ الله تعالی پرې ناراضه کیږي.

۲ــ د هر راز ترقی مخه نیسي او خپل منځي منازعات رامنځته کوي.

۳ــ د نورو قومونو سپک ګڼل چې سخت ناروا کار دی.

۴ــ د متعصب شخص ملګري او متعلقین کم وي.

۵ــ متعصب هر وخت پریشان او غمګین وي ځکه د نورو خلکو په نعمت کې اوسیدل یې ځوروي او زړه خوري.

په پای کې باید ووایو چې نن سبا زمونږ په خاص ډول زمونږ په هیواد کې د اشغالګرو او نورو فتنه ګرو ډلو لخوا څخه قومي، لساني او منطقوي تعصب ته لمن وهل کیږي او دخلکو تر منځ دغه جاهلانه فتنه راپورته کول غواړي. مونږ باید بحیث د مسلمان له دغې فتنې څخه ځان وساتو او نور مسلمانان ورونه هم ترې منع کړو.

مصری داکتر

حفیظ الدین پیرزاده

پرون مې خپله ماشومه لور د واکسین لپاره روغتون ته بیولې وه. په لاره د وزیر ګل پیغام د تیلفون پر شیشه را ښکاره شو. هغه معمولاً د خپل زوی جنت ګل له تیلفون څخه سلام را لیږي او بیا زه ورته زنګ وهم. ما ورته ځواب ولیکه: اوس مصروف یم، یو ساعت ورسته زنګ در وهم.

د واکسین د داکتر نوم عبد الرحمن السمک و. زه یې چې کله معاینه خانې ته ننوتم د های (Hi) پر ځای مې سلام واچوه. هغه زما سلام په وعلیک بدرګه کړ. داکتر په کمپیوتر کې په ټیټ اواز د قران کریم تلاوت لګولی و. سره له دې چې ږیره او بریت یې پاک خریلي و خو پر مخ یې د ایمان نور او پر ټنډه یې د أثرُ سجود نښه له ورایه ښکاریده. ما ته یې د کیناستو وویل. زه له خپلې ماشومې لور سره کیناستم. داکتر د واکسین پر آماده کولو بوخت شو او له ما سره یې خبرې هم کولې.

قدس ډیر پریشانه کړی و. او د اسلامي امت پر زار حالت خورا غمګین و. ما ور ته وویل: داکتر صیب! د فلسطین یاست؟ ځواب یې راکړ: نه، د فلسطین نه یم، د مصر. یم خو اقصی د ټولو مسلمانانو قبله ده. مسلمان چې د هر ځای وي پر اقصی به ویرجن وي. بیا یې راته وویل: مورِ عربو خپل رب هېر کړ او د غرب ملګرتیا مو وکړه، خپل ټول طبیعي منابع مو د کفارو د خدمت لپاره استخدام کړل نو الله ج داسې ذلیل او رسوا کړو چې خپل ځانونه مو هېر شول. اوس مورِ او زمورِ مشرانو خپل اسلامي تشخص او هویت له لاسه ورکړی. او هیڅوک هم نه یو . د ځان هېر ولو همدا مانا ده لکه قرانکریم چې ورته اشاره کوي، بیا یې دا مبارک ایت تلاوت

کړ: ولا تکونوا کالذین نسوا اللّٰه فأنساهم أنفسهم أولئِک هم الفاسقون. (او مه کیږئ تاسې ای مومنانو د هغو کسانو په شان چې اللّٰه جَلَّجَلَالُهُ یې هېر کړی، پس اللّٰه ج هېر کړ په دوی حق د نفسونو د دوی، همدوی فاسقان دي).

داکتر صیب وویل: څرنګه چې موږ اللّٰه هېر کړ او اللّٰه جَلَّجَلَالُهُ موږ بې هویته او بې شخصیته کړو نو اوس هغه اسرائیل چې زموږ د وجود له سلمې برخې هم وړوکی دی را باندې حکم چلوي!

داکتر د خپلو خبرو په جریان کې ماشومې ته واکسین وکړ، بیا یې را ته کړه: ای کاش موږ په مصر کې طالبان لرلای!! بیا به اسرائیلو هېڅکله دا جرئت نه و کړی چې بیت المقدس خپله پلازمینه اعلان کړي! داکتر پوهېده چې زه مسلمان یم خو دا ورته نه وه جوته چې افغان هم یم! ما ترې پوښتنه وکړه: داکتر صیب! ښکاري د طالبانو په اړه ډیر مالومات لرئ؟ هغه اوږده ساه راکاږله او بیا یې راته وویل: نه، ډیر مالومات نه لرم خو دومره پوهېږم چې افغانان دي، نیکونو یې هغه مهال د انګریزي امپراطورۍ غرور ور مات کړ چې هغوی پر ټوله اسلامي نړۍ قبضه کړې وه او مسلمانان په ذهني لحاظ مغلوب شوي و ، له انګریز سره مقابله ورته ناشوني ښکاریده! پلرونو یې بیا سور ښامار مات کړ! هغه هم هغه مهال چې سور لښکر د نړۍ په اند نه په شا تلونکی و. له سور پوځ سره د مقابلې جرئت د غرب په شمول هیڅا نه درلود. او اوس طالبانو د غربي نړۍ جنګي ماشین ناټو په ګونډو کړي! طالبان په تش لاس شپاړس کاله له هغې امریکې سره وجنګیدل چې موږ عربان ورته د خدایی په درجې قایل یو.

زه طالبان ډیر نه پیژنم خو دومره پوهېږم د نیم ژوندي اسلامي امت په مړه شوي زړه کې یواځینې ژوندۍ شریان دی چې نور بدن ته

وینه پمپوي، د ازادې وینه، پر الله ﷻ د توکل وینه او د خپل ځان پیژندنې وینه!!!!

زما ماشومه لور د واکسین له امله ډیره نارامه وه، سره له دې چې د داکتر خبرې راباندې ډیرې ښې لګیدې خو بیا هم اړ وم اجازه تړې واخلم! یواځې د تګ پر مهال مې ایله دومره ورته وویل: الحق معک، یا دکتور! (ته په حق یې).

پارکنګ ته د تګ پر مهال مې لور غیږ کې اخیستې وه او یو شان ویاړ مې احساسوه. د مرحوم غني خان دې شعر مې په سر کې انګازه کوله:

خدایه! شکر چې پیدا دې له دې قام کړم
د پښتون د نر وجود دې یو اندام کړم

ماشومه مې چې ویده شوې وه، په موټر کې کینوله او د کور پر خوا مې حرکت وکړ. ځرنګه چې له روغتون څخه تر کوره شل پنځه ویشت دقیقې مزل و، نو ما دغه وخت غنیمت وګانه او وزیر ګل ته مې تیلفون وکړ. له سلام او روغبړ وروسته مې د مصري داکتر خبرې له من او عن سره ورته وکړې. هغه وپوښتلم: تا ور ته څه ځواب ورکړ؟

ما وویل: ما یې نیک فکر تقدیر کړ او ورته مې وویل په حقه یې! نو یې راته کړه: که زه ستا پر ځای وم ورته ویل مې: طالبان که هوښیار وي او وس یې ورسي، باید له یهودو سره لاس یو کړي او عرب نه تنها له بیت المقدس څخه وشړي بلکې له مکې معظمې او مدینې منورې څخه یې هم بې دخله کړي! زه د وزیر ګل خبرې اک پک کړم، سمدلاسه مې ورته وویل: وزیر ګله! نشه خو به نه یې؟ دا ته څه وایې؟! راته یې کړه: نه، ښه په هوش او حواس دا خبره کوم. هغه مهال چې سور پوځ پر افغانستان راوخوت نو افغانستان موخه نه بلکې موخې ته د رسیدو لیار وه! روسانو غوښتل تودو اوبو ته ځان ورسوي چې که رسیدلي وای و نو اوس به نه د عربو دا شیخ نشینیانې وې او نه د سعودي شاهي کورنۍ! لیبیا او عراق خو لا له مخکې د روسانو ملګري و! له روسانو سره جګړه د اسلامي هیوادو د بقا جګړه وه چې افغانانو پخپل مټ، د خپل هیواد په ورانولو او خپلو دوه میلونه بچیانو په قرباني کولو تر سره کړه! مور ته د الله ﷻ رضا تر هر څه مهم وه! په داسې حال کې چې افغانانو د سور سیلاب د یاجوج او ماجوجو مخې ته د خپلو اولادونو له سرونو د ذو القرنین دیوال جوړوه تر څو نور اسلامي هیوادونه ترې متضرره نه شي ...

شاهد (غزنيوال)

ملا فقير محمد درويش

د جهادي ترنم منل شوی سرخپل

ترانې او ترانه ويل (انشاد) په اسلامي ادب کې اوږده مخينه لري.

د اسلام ستر پيغمبر چې کله له خپل ټاټوبي مکې مکرمې څخه يثرب (مدينې منورې) ته هجرت وکړ هلته يې د خايي خلګو (انصارو) لخوا په حماسي ترانو هرکلی وشو.

عبيد الله بن محمد بن عانشة وايي چې کله محمد صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغی نو هلته يې ښه راغلاست ته د ښځو او ماشومانو په شمول د مدينې منورې ټول اوسيدونکي راغوند شوي او دا ترانه يې ورته زمزمه کوله.

طلع البدرعلينا من ثنيات الوداع وجب الشکرعلينا ما دعا الله داع.

دا خوږ شعر او د هغه ښکلی مفهوم په اسلامي ادب کې د انشاد او ترانه ويلو يو اصل دی او له دې ماسيوا هم حضرت حسان بن ثابت چې د رسول الله په شاعر يې شهرت درلود ډير اشعار او قصيدې ويلې او د هغو په وسيله يې د اسلام ننګه کړې ده.

په معاصر جهادي پيرکې د سر ښندونکو مجاهدينو ترڅنګ يو شمير داسې شخصيتونه هم شته چې د خپل شعر او هنري مسلک په مټ يې د جهاد په لاره کې د پام وړ خدمتونه کړي دي، په خپلو شعرونو او ترانو کې يې د غازيانو سرښندنې او شاهکاری ستايلې او په خپلو انقلابي حنجرو يې د هغوی د ترغيب لپاره هڅوونکي حماسي ترانې ويلې دي.

د هغو له جملې څخه يوهم مجاهد ورور ملا فقير محمد درويش دی چې د صيليبي يرغلګرو خلاف جهاد کې يې د دې هنر فعاليت تر بل هرچا زيات دی ، مونږ غواړو دلته لومړی په مختصره توګه د نوموړي د پيژنګلوي په اړه څه ووايو او وروسته يې د هنري اعجاز په اړه رڼا واچوو.

پيژندنه :

ملا فقيرمحمد درويش د ملا کاظم شاه زوی په ۱۳۴۴ هـ ش کال کې د خوست ولايت د اسمعيل خيلو ولسوالی د حيدر خيلو په سيمه کې زيږيدلی دی ، لومړنی دينې زده کړې يې په خپل کلي او منځني او عالي زده کړې يې د هجرت ديار په بيلا بيلو مدارسو په تيره د جهاد او هجرت په تر ټولو مشهوره مدرسه منبع العلوم کې تر سره کړې دي.

نوموړي د پخواني جهاد په مهال په جنوبي محاذ کې د يوه مشهور جهادي ترانه ويوونکي

مجاهد لقب خپل کړی او په خپلو حماسي اشعارو او ترانو سره يې د شوروي اشغالګرو او کمونستانو خلاف د مجاهدينو روحيه ژوندۍ ساتلې وه .

د ادبي او هنري فعاليت پيل يې

ملا فقيرمحمد (درويش) د ترانه ويلو په فن کې د خپل ماما شهيد احمد غني (مسکينيار) له شاعري او همدا راز د هغه له ترانه خوانې څخه تأثر اخيستی او بيا يې په تدريجي ډول خپله په دې مسلک کې ارتقاء کړی تر دې چې د کمونيستي اوصليبي يرغلونو خلاف جهاد کې ديوه خانګړي جهادي سبک لرونکي ترانه خوان شهرت خپل کړی دی.

ملا فقير محمد (درويش) د شوروي اشغال په مهال د مجاهدينو د جهادي روحيې ژوندۍ ساتلو لپاره په سلګونو ترانې او حماسه يي اشعار ويلي چې هماغه مهال د افغانستان غږ جهادي راډيو له لارې او همداراز په جنوبي ولايتونو کې د جنوبي محاذ مربوط د حقاني صاحب د مجاهد غږ راډيو له لاري خپاره شوي دي.

د صليبي اشغال په خلاف جهاد کې د درويش جهادي اغيز

په ۲۰۰۱ کال کې د امريکايانو لخوا د افغانستان تر اشغال وروسته افغان مجاهد ولس د يرغلګرو په وړاندې جهادي مقاومت پيل کړ.

په دغه جهادي مقاومت کې د هيواد د علماوو او منورينو ترڅنګ د افغان ولس ټولو طبقاتو ، ليکوالانو، شاعرانو اديبانو پوهنتوني استادانو ، محصلينو او متعلمينو هر چا په خپل مجال کې مهم سهم لرلی دی.

ملا فقير محمد درويش چې د شوروي يرغلګرو په مهال د جهاد او هغه مهال د ترانه ويلو تجربه ورسره وه له لومړۍ ورځې څخه د صليبي يرغلګرو خلاف جهاد کې خپل تحريضي رول تر سره کړی .

نومورې په ډير و سختو شرائطوکې په خپل خواږه ترنم سره خوانان د صليبيانو خلاف جهاد ته هڅولي چې په دې سره د صليبي يرغلګرو خلاف جهاد کې د ملا فقير محمد (درويش) رول تر بل هرچا بارز او خورا مؤثر و.

تردې چې د جهادي جبهاتو په مورچلونو، د اعداد او رباط په معسکرونو(غونډونو) او د مهاجرت په کمپونو، ديني مدارسو، عصري مکاتبو ، پوهنتونو او نورو علمي او فرهنګي مؤسساتو کې هيڅ داسې موقع او خای نه و چې د ملا فقير محمد(درويش) له ريکارډشويو جهادي ترانو څخه دي خالي وي . د مدارسو هره مناسبتي غونډه د قرآن کريم تر تلاوت وروسته د درويش په انقلابي غږګې په نظم او ترانې ويلوسره افتتاح کيږي.

ملا فقير محمد د صليبي يرغلګرو خلاف جهاد کې د يوه محبوب القلوب جهادي شاعراو ترانه ويوونکي په توګه هرڅوک پيژني ، ښايي د ده د شهرت او معرفي په کچه بل هيڅوک هم په خپل نوم دومره زيات شهرت ونه لري.

د محترم ملا فقير محمد درويش په جهادي شهرت کې د هغه په انقلابي حنجرې او مؤثرهنريت سربيره د نومورې ښو اخلاقو، سنګني او جهادي سابقي او اخلاقي وقار هم خاص رول لرلی دی.

نوموړی له دې ټول جهادي شهرت او مؤثریت سره سره نهایت متواضع، سنګین، باوجاهته او پاک نفسه شخصیت دی چې هیڅوک تري د تکبر، غرور او أنانیت حس نشی کولای.

ملا فقیر محمد درویش د جهادي ترنم د مخکښ او سر لاري په حیث په ډیره بریالۍ توګه د صلیبي یرغلګرو پرخلاف خپل رول ترسره کړی، او په دغه رول سره توانیدلي چې په لس ګونو زره خوانان جهاد ته تشویق کړي، د مقاومت په سنګرونوکې هغوي ته د فدا کاری، ایثار او سرښندنې روحیه ورکړي، د هغوی په زړونوکې د جهاد او شهادت جذبه تحریک او په خپلو حماسي اشعاروسره جهادي اتلانو ته د بهرنیو یرغلګرو په وړاندې د مقاومت او مقابلې مورال ورکړي.

د مجاهدینو د جهادي نشراتو ټول صوتي او تصویري اصدارات د نوموړي په خوارۍ او الهام بښونکي غږ اوهمدا راز حسن اختتام یې د نوموړي لخوا په ریکارډشویو ترانو سره کیږي.

ملا فقیر محمد درویش د جهادي ترنم د پیژندل شوي سرخیل په توګه دهرچا په زړه په تیره د جهادي سرښندونکو (استشهادیانو) په زړه کې هم خاص ځای لري. یومهال په یوه جهادي محاذ کې د استشهادي کنډک مجاهدینوته په داسې مهال کې چې نوربه هغوی د استشهادي عملیاتو د تنفیذ ساحې ته تللو د جهادي مسؤلینو لخوا وویل شول چې تاسو د خپل ژوند په دغو وروستیو لحظوکې کوم آرمان لرئ چې مونږ وتوانیږو هغه در پوره کړو؟

هغوي ټولو په یوه غږ له ملا فقیر محمد درویش سره لیدل او ملاقات د خپل ژوند د وروستي آرمان په حیث غوره او له مسؤلینو څخه یې هیله وکړه چې د ملا فقیر محمد درویش ملاقات ورباندې وکړي.

د شوري اشغالګرو په خلاف جهاد کې چې مجاهدینو د لویې پکتیا په غرونو، ژورې، بړي او تورغره کې د ملا فقیر محمد درویش له حماسي ترانو څخه د فداکاري او سر ښندنې تأثر اخیست اوس مهال د صلیبي یرغلګرو خلاف جهاد کې د هیواد د ملي او جهادي ترانه ویوونکي لقب په خپلولو سره یې له کونړه ترهراته، له بدخشانه ترهلمنده، له کندهاره تر ننګرهاره، له فاریابه تر پنجشره او بالاخره د هیواد ترګوټ ګوټ پورې د ده د انقلابي غږ انګازې رسیدلې او د وطن لسګونو زره ځوانانو ته یې د اجنبي یرغلګرو خلاف د جهاد او قربانۍ روحیه ورکړې ده.

ملا فقیر محمد درویش په افغانستان کې د صلیبي یرغلګرو خلاف جهاد کې د صحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین د عصر د حسان بن ثابت رول ترسره کړی، هماغه ډول یې د دښمن خلاف حماسي اشعار او تحریضي ترانې ویلي او د هیواد د آزادۍ په لاره کې جنګیدونکو مجاهدینو تري د غیرت، شجاعت او میرانې تأثر اخیستی دی.

د طالبانو د حاکمیت په مهال د شریعت غږ رادیو د نشراتي پروګرام پیلیدونکې ترانه هم د ده په غږ کې ویل شوي:

(ساتو یې په سرو وینو دا د شهیدانو کور..دا د باتورانو کور دا د باتورانو کور)

د اسلام غزوات او سرلیا

د بیعت فضیلت

په تیر پسې

ابوظهیر

بیعت د(بیعِ)نه مشتق دی معنی یې (پلورل) ده او دشریعت په اصطلاح کې (دجنت په عوض کې په الله جَلَّجَلَالُهُ باندې دخپل ځان پلورلو ته بعیت ویل کېږي) نفس مبیع دی او جنت یې ثمن(قیمت) دی،انسان بایع(پلورونکی) او الله جَلَّجَلَالُهُ مشتري (اخستونکی) دی دټولو هوښیارو خلکو په اند دا منلې قاعده ده چې دپلورلو وروسته مبیعَ دبایع (پلورونکي)

د واک نه وزي اودمشتري (اخستونکي) واک تر لاندې راځي ،بیا پکې هغه دهر ډول تصرفاتو څښتن ګرځي، په ورته توګه مومن هم دبیعت کولو وروسته دخپل نفس څښتن نه پاتې کېږي ، پکار ده دبیعت کولو وروسته هغه پخپل نفس کې پخپله رایه او خواهش هیڅ قسم تصرف ونکړي.

په دې معامله کولوکې هغه دالله تعالی سره مخا مخ کېږي نه؛ بلکې دالله تعالی داستازو [انبیاء علیهم السلام] او دهغوی دوارثانو په توسط له الله تعالی سره کېږي

دصحابه وورَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ لخوا درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارک لاس باندې بیعت کول په اصل کې دالله تعالی سره بیعت و، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دالله تعالی او دصحابه وو په منځ کې یو وکیل او کفیل و لکه چې الله تعالی فرمایي:

اِنّ الذین یُبَایِعُونکَ اِنمّا یُبَایِعُونَ اللهَ یَدُ اللهِ فَوقَ اَیدِیهِم

ژ:په تحقیق سره کوم خلک چې تاسره بیعت کوي په حقیقت کې هغوی له الله تعالی سره بیعت کوي دالله تعالی لاس دهغوی په لاسو دی

بخاري شريف کې له سهل بن سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:

مَن يَضمَن لِي مَا بَينَ لحييهِ وَرِجلَيهِ اَضمَن لَّهُ الجنّة

ژ: څوک دی چې ماته دخپلو دوه ژامو او پښو دمنځ... ضمانت راکړي يعنې دژبې او عورت د ساتنې ضمانت راکړي هغه لپاره زه دجنت ضامن او کفيل يم

په دې حديث کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل ځان دجنت ضامن گرځولی که مومنان ددي ضمانت ر وکړي چې په ژبه او عورت دواړو کې به دالله تعالی درضا خلاف هيڅ تصرف نه کوي کوم چې مشتري دی نو زه دالله تعالی له لوري ددې مبيعې(نفس) دقيمت يعنې جنت ضامن اوکفيل يم

محدثين ليکي: په پورته حديث کې د(يضّمن) او (اضمن) لفظونو کې ددغه بيع لورته اشاره ده، ځکه کفالت او ضمانت په خريدو فروخت کې کېږي، که په مبيعَ کې کوم عيب راووت نو مشتري د(خيار بيع) په وجه يې دبيرته ردولو حق لري خو که مشتري په مبيعَ کې دعيب ليدو وروسته ووايي: [رضِيتُ] زه راضي يم، عيب خيار ساقط گرځي او شوې سودا يا معامله بشپړيږي او هم داخستونکي (مشتري) له لوري د ردیا فسخ کولو احتمال پای مومي

صحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دونې لاندې درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارک لاس بيعت وکړ، ا لله تعالی دا لاندې ايت نازل کړ:

لَقَد رَضِيَ اللهُ عَنِ المُؤمنينَ اِذ يُبَا يِعُونَکَ تَحتَ الشّجرةِ

ژ: بيشکه الله تعالی راضي شو دهغو مومنانو څخه، کومو چې دونې لاندې ستا په لاس بيعت وکړ

خپل خيار عيب يې ساقط کړ او څرگنده يې کړه چې هغوی دالله تعالی سره کومه معامله کړې هغه هيڅکله فسخ کوي نه؛ الله تعالی هم دخپلې رضا په څرگندولو خپل خيار ساقط کړ، صحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ د[رضينابا الله ...] په ويلو سره خپل خيار ساقط کړ لکه الله تعالی فرمايلي:

رَضِيَ الله عَنهُم وَ رَ ضُوا عَنهُ

الله تعالی دهغوی څخه راضي شو او هغوی له الله تعالی نه راضي شول

ددې ایت لاندې مولانا محمد اداریس کاندهلوي رحمه الله لیکلي:

اګر که دالله تعالی له لوري دهیڅ کوم عیب امکان هم نشته خو صحابه وو دخپل رضیت په اعلانولو سره دفسخې او اقالې امکان ختم کړ، غرض داچې دطرفینو لخوا دخپلې، خپلې رضا او خوشالۍ څرګندول خپل،خپل خیار ساقطو ي، چې بیع پوره او مکمله ده صحابه رضي الله عنهم خپل ځانونه او نفوس الله تعالی ته اوسپارل، دشوې الهي وعدې له مخې دهغوی دنفوسو ثمن (یعني جنت) دالله تعالی په ذمه باندې واجب شو او دصحابه وو رضي الله عنهم پرته دنورو معامله په خطر کې ده، نده معلومه چې دچا، چا مبیعَ به دخیار عیب په بنا رد کړای شي

لنډه داچې کومو صحابه وو درسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک بیعت وکړ، الله تعالی دهغوی نه راضي شو او دهغوی زړونه یې دسکینت او طمانیت له ګرانبیه نعمت څخه ډک کړل دګنې اياتو نو او احادیثو له مخې د بیعت په سنتیت، مستحسن والي او دخیرو برکت په موجب کېدو کې دشک اوشبهې ځای نشته ، رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګه چې دکتاب او حکمت معلم و، هم داسې دامت دزړونو صیقل کوونکی و، په همدې توګه په زمکه دالله تعالی خلیفه هم و، کوم بیعت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دخلیفة الله په حیث اخیسته هغه دخلفاوو لپاره سنت شواو کوم بیعت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمعلم الکتاب والحکمة او مزکی په حیث اخیست هغه د علماوو او عارفانو لپاره سنت شو.

په حدیبیه کې دحضرت عثمان رضي الله عنه لپاره درسول الله له لوري خپل یو مبارک لاس په بل مبارک لاس ایښودل او بیعت کول ددې خبرې دلیل دی چې دیو تن لپاره دهغه تن په غیاب کې هم بیعت کول صحیح دی

دسلمة بن اکوع رضي الله عنه له لوري دري واره بیعت ددې خبرې دلیل دی چې دبیعت تجدیدول او تکرار مسنون او مستحب دی

په حدیبیه کې چې کومو خلکو درسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس بیعت وکړ الله تعالی بلا قیدو شرط له هغوی څخه خپله خوښې او رضا اعلان کړه. نوربیا...

سعدکتوازی

"داطالبان... تر مرګه پورې مجرمان په توبه باندې ببنې، تر مرګ يې لاړې ته رابولي..."

خاطره:

په چکر ورغلم ډيـر سپين ږيـرى او د سـترګو نظريې هم کمزورى و، د پخوا وخـت کـږي او مـاتې عينکې يې سترګو ته اچولې وې لمرځيکې تـه ناسـت و، يوه نوې رساله يې مخ ته نېولې او دومره په شـوق يې لوستله چې زمـا پـه راتـګ، سـلام اچولـو، بـوټ ايستلو او هيڅ باندې پوه نشو ترڅو ما د ستړي مشـې لاس د هغه او رسالې ترمنځ حائل کړل، پـه اوږه مـې زور ور وکـړ چـې مـه را ولاړيـږه، سـتړي مشـې او روغبړ مو سره وکړل، رسالې ته مې لاس ور اوږد کړ هغه هم را کړه.

دا د طالبانو رسمي مياشتينۍ (څرک مجلـه) وه چې تازه دمه چاپ شوې او بيا به ده ته چا را رسـولې وه، خـو سـم لـه واره هغـه هـم لګيـا شـو وايـې دا طالبـان... ماتـه هـم دژمـي پـه ورځ همـداسي ګـرم لمرځيکې ته د ښه ګرم مجلس موکه په لاس راغله، له بلې خوا د پخوانيو خلکو له کيسو سره ډيره مينه لـرم نومې سم ورته واړول.

ملا صاحب وويل: دا طالبان که بـه دې ابـابيلو غوندې دې خداى پاک لښکر نېوي نـو خـداى پـاک مې دي د ېچا او چا په حشر... دې لښکر سې۱۷کاله مخکې کوم نظـام او حکومـت راوسـتى و هغـه دې خداى پاک نظام و دې خداى پاک حکومت و، ټـول کـړه وړه او فيصـلې ېـه هغـه وې اوس يـه هـم دي سـې۱۴۰۰کالـه مخکـې خـداى پـاک دې خپـل نظـام ډېپاره په قرآن مجيد کې نبي عليه السلام ته را ليږليـه وې سې دا نن يه زه او ته يايو (وايو/تلاوت کوو).

ملاصاحب وويل: ملامحمدعمر له ما ليږ کسير (کشر) و ډرومبنې (پخوانې) جهاد په وخت کې مـې هم نوم اوريدلى و خو ليدلى مي نه و، هغه به ډير نه غږيدو که به وغږيدو بيا بې ديسي خبرې کولې لکـه د قرآن مجيد اياتونه ټکې پـه ټکـې رښـتيا کيـدلې او ډيرې زورې ماناوې يه وې.

هغه ماته دېسې ښـکاريدو سي ډيـر پـه خـداى پاک ګران او نازولى ده، په دېسې سـخت حـال کـې مې په دنياکې ديچا دومره وس، په ملک او ملکيـانو باندې ننګ او غيرت نده ليدلى لکه دې ملاعمـر، نـو زه يام ويبه نـه، سي نېـوي نـو لـه خدايـه پاکـه پرتـه څوک سته سي دايه په وس کـې وي او دېـدې غـيرت

وېکې کوم سې ملاعمر وکـو؟ دې خـدای پـاک خـو هرڅه په وس کې سته او ډېر غیرتي هم ده نوښه...دا دي ملاعمر وس، ننګ اوغیرت هرڅه سېدي دابـه ده ته دې خداي پاک خاصه ورکړه نهوي؟ نو پخپله تړې مالومیږي سې دی پـه خـدای پـاک ډېـر ګـران و او خدای پاک پدې شـیانو نـازولی و، دا مـاتې ولـې نـه راکوي تا تې ولې نه درکوي دنیا پـه خلکـو ډکـه ده، پخپله دې ملاعمر تر لاس لاندې څوره نیک خلګ و سې له ده وروسته هم دېده په پله ورپسې دي هغو تې ولې نه ورکول سې بیـا ملاعمـر هـم دېـدوی تـرلاس لاندې وای او په دوی پسې روان وای؟

خدای پاک او دیده دې نظام مسیر (مشر-) مـلا عمر یو بل ته ډېـر سره ګـران و، ملاعمـر دې خـدای پـاک امروتـه دوره (دومـره) وفـاداره، ټینـګ ولاړ، وینې، اوښیاره او دې خدای پاک دېسې غـلام و سـې هرشی به خدای پاک په زړه کې ور واچول هغه بـې دې سر په نرخ (بیه) کول، خدای پاک په زړه کې ور اچولېه وه سې هلـه دادې انـار شـې وال او فسـادیان پسې واخله دېما بندګان او غلامان یه تنګ کـړې دي او دېما نظام ته جی (ځای) نه ور کوي، ملا عمر ټول په یوه درګه (د خـره تیـزه منـډه) دې پنشـیر درو تـه ورسول، خدای پاک دې ړومبنې جهاد دې مسیرانو په زبه (ژبه) پو کړی و او دېده پـه زړه کـې ور اچولیـه وه سـې کـافران دې پـه ملـک کـې دېـما نظـام نـه پرېږدي...، بیا سې ده دې خدای پاک نظـام راوسـت کفارو بیرته ور ړنګـا و بیـا خـدای پـاک زړه تـه ور واچوله سې بیدار سه ټینـګ سـه دوره بیـدار سـو او دوره ټینګ ورته ودریـدو سـې سـې سـې سـې، کافران رالو دې خدای پاک نظام کې ړنـګ کـو خـو مات یه نکو او نې ملاعمر مـات کـو، دې ده فـولادې زړه ته خدای پاک نور فولاد (ډاډ) ور وا چـول ډکـې کو.

ملاعمر دې خدای پاک حکومـت جـوړا و نـو کارونې هم ټول خدای پاک ور جوړول، خدای پاک دوره زیات مخلوک، عالمان، طالبان، مالداره خلـک، دې نورو ملکو مسیران او مسلمان ده ته مسخره کړې و سې امرېکه یه پې۵۲جیه که، دې موږ جمایتـو تـې چاپ کاغذونه (غالبًاهغه شبنامې یادوي چې د صلاح الدین ایوبي په نوم خپرې شـوې وې) را لیږیلې و دې هغـو پـه اخـیر کـې لیکلـې و سـې امرېکـه بـه دوپینځـوس ټـوتې سي، خلـګ نسـو پـو سـې دا دوپینځوس یه ولې ویلې دي؟ دېسـې خـو بـې لاویـل سې امرېکې ته به ما تیه ورکوم نو دا دې دوپینځوسو په خبره څوک نسو پو؟ سې بیا یه په تس لاس ماتیـه ورکه نو دې خلګو په دماغ کې دغه راز را لوڅ سـو معما حل سوه، ده ته خـدای پـاک پـه زړه کـې دا ور اچولیه وه سې ورته ټینګ او بیدار سه امرېکـه سـې د۵۲ملکو په اشر دېما په نظام او دې تا غوندې ګـران بنده په کور چپاؤ راوړي زه بې په تـا دیسـې وټکـوم سې دا یو سېوي امرېکه سېوې ملکونـه بیرتـه۵۲سي، ته بس دې امرېکې په مقابله کې دې غرور غـاړه تـر جګ غره هم هسکه وړه تې ګوره سې زه تا دوی تـه ور وښیم او بیا دغسي- سـوه کـه نسـوه! امرېکـه یـه له۵۲سو نکه تس نس؟

ملاصاحب د مجلي په بل مخ ښکل شوې د شهید ملا عبیدالله اخند خاطرې ته په اشاره سره وویل: تـې وګوره هغه وخت هم دې طالبانو دغه زور او دغه یه دې خدای پاک اسره وه تې وګوره والله کې بل څوک لارو خو دابنه سوه سې دې خدای پاک په فضل دوره نسو تس لاسې سې په ډبرو یه وېلې وسلې یه غروتـه ورسره یو وړې بیا سـې بـه دې خـدای پـاک څرنګـه کومک ورته راتو دغسې بې (به یې) دې خدای پاک په دښمنانو اور بلاو.

ملاصاحب زیاته کـړه: دا طالبـان لکـه خـدای پاک سې تر مرګه پوري (بندګان ښـي) مجرمـان پـه توبه باندي ښي، تـر مرګـې لاري تـه را بـولي او پـې خوشاله کیږي، نو دا دې خـدای پـاک لښـکر او دې خدای پاک حکومت نسو نو چښی سو؟

ملاصاحب ډیر و غږېد، کـه لـه یـوې خـوا یـې طالبان او د هغو مشران ښـه وسـتایل لـه بـلې خـوا یـې حکومت هم ښه سپک ورک کړ، هغه ملګري ملتونه ملګري ملتونه او لعنتونـه بلـل، خـو دلتـه زمـا موخـه یواځې د دې ملاصاحب په نیک تأثر کـې د طالبـانو د مشر مـلا محمـدعمر مجاهـد او د هغـو د واکمنـۍ را نغښتلې خاطره او د هغو یاد ژوندي کول و.

د ملاصاحب خـبرو تـر ډیـره بریـده داسي ښـه درلو ده چې هغه که څه هم د طالبانو له مشر څخه د عمر په لحاظ مشر و او ډیر یې له نږ دې پیژانـد هـم نه خو د یو ولی الله او کامل بنده په صفت ورته قائل و، په دې مانا چې د ده په خبره د طالبانو مشر د جهاد او یو اسلامي نظام د را وستلو په لاره کـې د قـرآن او حدیث په اشاري غوښتنه لا هم له خـپلې وسې پورتـه عمل کاو او له همدې لاري یې خـدای (ج) تـه ځـان رسولی و، هغه او د هغه لارویو طالبانو د خدای (ج) له امره (چې یو مؤمن او مسلمان تـه یـې کـړی) سره سم حق جهاد وکـړ او کـوي یـې، هغـو پـه خپـل سر یواځې د الله (ج) او رسول الله (ص) امر او حکم منل او هرڅه یې یواځې د همدغه هدف لپـاره وو او هـم دي چـې د انسـاني ژونـد ټـولې برخـي او اړخونـه را نغاړي، نو ځکـه هغـه هـر وخـت بـریمن او لـه تمـي هرڅومره پورته درانـه پـرا وونـه یـې مهـار کـړل او مهارولای یې شي، خدای (ج) هم هغـه ټـولې وعـدې ورپوه کړې چې لـه دوی سره یـې کـړې او لا ترڅـو چې طالبان دغه تګلاره ولري ورته ژمن دی.

ماته د ملاصاحب دغو نیکـو تـأثراتو ډیـر خونـد راکړ، که زما په ځای یې یو داسي چاته دغه خبرې کړې وای چې د طالبانو یا د هغـو د مشر ـ پـه اړه کـوم شـک ولري نو فکر نه کوم چې بیا یـې هـم شـک پـاتې شـوی وای، نو له همدې ځایه ویـلای شـم چـې د کـافرانو تـر څنګ ولاړ نوي خو تیروتلي نسل او ځوانانو داډهانو په تنـویر او بـیر تـه جلـب، د هیـواد پـه تـیر تـاریخ او بیاوروسته رغاوي کې د ولـس تـر اړخ درولـو اوګډون کې به همدغه سپین رویې مـلا صـاحبان او هغـه مشرـان کلیدي رول ولري چې د طالبانو مشر، واکمنـي او بیـاتر اوسه یې پـه خپلـو سـترګو لیـدلې او ورسره د کـافرانو د اتحادیې ډالۍ یې هم تر ستوني شوې خو تر اغیز لانـدې نه وي راغلې، ممبر خو هسي هم د تـاریخ پـه شـاهدۍ د سنګر ترڅنګ خپل رول په اثبات رسولی دی.

د مورچل وږمي

غزل

د گل مینه

نظام کندهاری

مونږ د اغزو پر څوکو ځو د منزل مینه کوو
پر سینه سره زخمونه وړو خو د گل مینه کوو

اول د زړه وینه په جام کې د وفا ورلېږو
بیا د لیلی د سپین رخسار او اوربل مینه کوو

د یار دیدن ته د بارودو په سنگار کې ورځو
غواړو آشنا! خو د رقیب د اجل مینه کوو

مینه مو کار مینه مو ژوند مرگ ته هم ځو په مینه
مینه مو خوښه ده دا ځکه چې تل مینه کوو

مونږ رسوو د مینې ښار ته قافلې د مینې
د اوږدو لارو د دې ستړي مزل مینه کوو

زمونږ په وینه گډه شوې له ازله مینه
دا چې شیندو یې هره ورځ پر کابل مینه کوو

ټول مینه مینه یو نظامه زمونږ مسیر د مینې
که اَشِدَّاء یو پر پردو خو پر خپل مینه کوو

چنار ټکور

تلوار مه کړه لېونیه لږخوتم شه
شېرین عمره بېړنیه لږخوتم شه

په سلگو سلگو کې مه رانه تېرېږه
دژوندون مازیگریه لږخوتم شه

دځوانۍ په درشل اوس یمه گډ شوی
درته سوال کوم مرگیه لږخوتم شه

انقلاب دی خدای خبرچې بیابه راشې
طالب جانه گلالیه لږخوتم شه

اسمانونه ځمکې دواړه درته ژاړي
اې ددرد سوې زگېرویه لږخوتم شه

همېشه په چیغو چیغو مه ژړېږه
دټکورغریب زړگیه لږخوتم شه

طالب جانه!

عالف مهاجر

طالب جانه زما زړه دې رانه وړی
طالب جانه زه په تا باندې مین یم
طالب جانه په نامه باندې دې ویاړم
طالب جانه ستا د ژوند په ستر کتاب کې
چې لیکلي ښه درانه دي
د زمزم په اوبو لیک دي
د کتاب دې درانه توري
څه ځلیږي لکه ستوري
طالب جانه د بلا ملا دې ماته
په ګونډو دې کینولی
طالب جانه بس یو ته یې
چې باطل دې ځملولی

طالب جانه د وطن لیلا درګوري
پرې باران د مینې اوري
طالب جانه لږ یې تاته زړګی ښه ده
لکه مات زړګی یې بیا چې پرهریږي
بیا یې ورک پیزوان پیداشو
بیا یې زړه په تا شیدا شو
بیا یې هیلې راژوندی شوې
بیا یې ژوند یوه خندا شو

طالب جانه ته د لارې یو مشال یې
طالب جانه ته اذان د ورک بلال یې
ستا په غږ به مونږه ټول تر تا رادرومو
له مسجد د ازادۍ یو اذان وکړه
د ښامار په خوله کې ماتې کړه وردارې
د وطن شیرینه ستا په مینه ناسته
د راتلو دې اوس له وخته لارې څاري

طالب جانه ګلبشره درته نعرې کړې
د جومات په دروازه درته ولاړه
یو څو نورې ګلبشرې هم ورسره دي
طالب جانه اوس یې جام په لاس کې نشته
طالب جانه اوس یې لاس په وینو سور دی
ها چې تا ته یې په مینه وو نیولی
هغه ګل یې اوس له لاسه غورزیدلی
طالب جانه اوس یوه بله ټپه وایي
خوب مې لیدلی چې بلا مې درنه وړینه

طالب جانه د وطن د باغ بلبله
د وطن د هر ګلزار ښایسته ګله
دا وطن په تا ښایسته ده ښه ښکاریږي
دا وطن دې بې تا نشي ګل ګلابه
طالب جانه د عاکف د وطن خاوره
هره سمه هره ګاره اوس تا غواړي

فدایانو ته!

ذاکر مهاجر

عشقه اوس خوبه منې دا
چې لاپاتې یې په زړوکې
لاخمار یې په سینوکې
لادمینې په کاروان کې
اوس هم ډیرلیوني شته
هاغه ګوره شنې لوخړې
لمبې ګورې چې تاویږي
سپین ګلونه لوګی کیږي
لاله زاردی د سرو وینو
چې د اور په غیږ کې خاندي
ولاړې پاس لکه کوترې
څو شهیدي ارواګانې
لامیوند کې زلمي ډېردي

چې د وینوملغلرې
د ملالې پراوربل ږدي
د سکروټو په سرپل ږدي
نن دې ولیدل جانانه
چې د چا په مینه خارشول
د ابد غیږ کې ویده شول
لکه لپه دغمیو
چې شیندلې پرمیدان وي
دذاکرمینې ګله
زموږزړونه له تاخاردي
دابه تاسره پیمان وي

***

جنګي جنايتونه (دسمبر)

سید سعید

د ۲۰۱۷ز،کال د ډسمبر دمیاشتي په ۴مه نیټه د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ په برګ کلي باندي امریکایي او داخلي عسکرو دچاپې په مهال اته تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

د ډسمبر په ٦مه د ننګرهار ولایت دحصارک ولسوالۍ په دوآب او غورېزه سیموکې دیرغلګرو په بمبار کې درویشت تنه ملکي هیوادوال شهیدان او دوه ټپیان شوي دي.

ددسمبر په ٦مه دکندهارولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ دخیرتوت په سیمه کې یرغلګرو د داخلي کمانډویي عسکروپه ملتیاچاپه وهلې، خلګ یې له کورونو رایستلي، دمسجددملاامام په شمول یې درې تنه کلیوال شهیدان کړي او دوولس تنه یې بندیان کړي دي.

دډسمبر په ٦مه یرغلګرو داخلي عسکرو په ملګرتیا د میدان وردګو ولایت نرخ ولسوالۍ په عمرخېلو کلي کې دډاکټر عبدالوکیل لیسه تخریب کړې او ځینې وسایل یې ترې وړي دي.د دې لپسې د امر عزت الله او تدریسي مدیر محمد حلیم په ویناګډو ځواکونو د دوی مهم اسناد او پروجیکټور وړی، پنځه پایې کمپیوټرونه او د لابرتوار وسایل یې لوټ کړي دي .

دډسمبر په ٦مه د میدان وردګو ولایت د سیداباد ولسوالۍ په تنګي دره کې امریکایي اوداخلي عسکرو د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې،دخلګو کورونه یې تلاشي کړي او څلور تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي او څلور تنه یې بندیان کړي دي.

دډسمبر په ۸مه د میدان وردګو ولایت سیداباد ولسوالۍ په تنګي دره کې داخلي عسکرو یو صحي کلینیک چور کړی، ټول صحي سامان آلات، ادویه، چپرکټونه، د برق ماشین او نور لوازم یې وړي دي.یادشوي کلینیک د سور صلیب له خوا اکمالیده او دهمدې سیمي دخلګو ددرملنې یوازینی روغتیایي مرکز و، چې دپولیسو له لوري چور او او فعالیت یې فلج شو.

دډسمبر په ۸مه د کندز ولایت دامام صاحب ولسوالۍ په قرغان تپې سیمه کې د اشغالګرو په بمبار کې ګڼ کورونه زیانمن شوي او اووه تنه ملکي هیوادوال پکې شهیدان شوي دي.

دډسمبر په ۹مه د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ په ډاګه ناصرخېلو سیمه کې د اشغالګرو په ډرون حمله کې دوه تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۰ مه یرغلګرو دداخلي عسکرو په ملتیاد میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ د شیخ اباد په نوري او کودي سیمو کې چاپې وهلي، د کورونو دروازې یې ماتې کړې، کورونه یې تالاشي کړي، خلک یې وهلي او په نوري کلي کې یې یو صحي کلینک لوټ کړی، طبي توکي او الات یې ور څخه وړي دي. همدرانګه یې د کلي د ملاامام په شمول اووه تنه کلیوال له ځان سره د بندیانو په توګه وړي دي.

دډسمبر په ۱۰مه د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په مربوطاتو کې اشغالګرو د ملکي خلکو د سپرلۍ په موټر ډرون حمله کړې،په برید کې د یوه ماشوم په شمول څلور تنه ولسي- وګړي شهیدان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۱مه د خوست ولایت مندوزیو ولسوالۍ دورزي سیمه کې امریکایي اشغالګرو د کورنیو عسکرو په ملتیا په یوه دیني مدرسه چاپه وهلې، مدرسه کې یې داړتیا وړ توکي لوټ کړي او شپږ ویشت تنه زده کونکي یې له ځان سره د بندیانو په توګه وړي دي.

دډسمبر په ۱۱مه د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ د صالح زیو سیمه کې اشغالګرود داخلي عسکرو په ملتیا دچاپې په مهال د یوه کور څلور تنه غړي شهیدان کړي دي.

دډسمبر په ۱۵مه د ننګرهار ولایت د خوږیانیو ولسوالۍ په ټټنګ سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو پر یوه دیني مدرسه عملیات کړي،په عملیاتو کې یې څلور تنه دمدرسې طالب العلمان شهیدان کړي او اووه نفره ملکي وګړي یې بندیان کړي دي.

دډسمبر په ۱۶مه دهلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ دمیان رودي په سیمه کې داخلي کمانډویي عسکرو د یرغلګرو په ملاتړ په یوه دیني مدرسه چاپه وهلې،دمدرسې ودانۍ یې تخریب کړي او درې تنه زده کونکي یې بندیان کړي دي.

دډسمبر په ۱۸مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د نهرسراج ددښت په سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې درې ماشومان شهیدان شوي او دوه تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

دډسمبر په ۱۸مه د زابل ولایت مرکزقلات ته څیرمه په شادو کلي کې داخلي عسکرو یوتن دیني عالم (مولوي منګل) چې په سیمه کې یې دامامت اوتدریس دنده پرمخ بیوله شهید کړی دی.

د ډسمبر په ۱۹مه د بلخ ولایت د چاربولک ولسوالۍ په جوی شور سیمه او د چمتال ولسوالۍ په خدرخېلو سیمه باندي اشغالګرو د کورنیو عسکرو په ملتیا دچاپو په مهال نولس تنه ولسي وګړي د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دډسمبر په ۲۲مه دفراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ دشیوان په سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په پیرونو کې دري تنه ملکي وګړي شهیدان او دوه ټپیان شوي دي.

دډسمبر په ۲۳مه دارزګان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند د موسی زو په سیمه کې یرغلګرو دچاپې په مهال دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او دري کسان بندیان کړي دي.

دډسمبر په ۲۵مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د وزیرو په میرزاخیلو سیمه کې امریکایي اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیادچاپې په مهال دخلګو له کورونو قیمتي شیان وړي، دوه تنه کلیوال یې شهیدان کړي، یو تن یې ژوبل کړی او دوه تنه یې بندیان کړي دي.

دډسمبر په ۲۶مه د ننګرهار د مومندرې ولسوالۍ په ګردي غوث سیمه کې داعشي- وسله والو یو مسجد او زیارت منفجر کړي چې ور څېرمه کورونو ته یې هم زیان رسولی دی. تر دې یو ورځ وړاندي هم داعش ډلي په جلال اباد ښار کې د خوږیانیو د سیمې یو دیني عالم مولوي سید حضرت حقاني شهید کړی دی. همدارنګه څو اوونۍ وړاندي داعش د مومندرې ولسوالۍ په جامع مسجد کې دچاودنې په مهال د ملا امام په ګډون اته تنه لمونځ کوونکي شهیدان کړي دي.

دډسمبر په ۲۹مه دجوزجان ولایت په درزاب او قوشتېپه ولسوالیو کې داعش دوولس تنه ملاامامان تښتولي او وروسته یې څلور تنه شهیدان کړي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

۲۰۱۷ زکال

د ديسمبر د مياشتې جهادي خبرونه

غزل

شفاعت ریحان

کوي را باندې وخت په وخت پوښتنه لکه ته
یو څوک مې کړي د زخم درملنه لکه ته

مني مې د سپېرو شونډو خبره یو سړی
مني مې د سپېرو شونډو غوښتنه لکه ته

هو تا خو شهادت غوښت، خو زما په دې ارمان یې
چې څوک به کړي بیا داسې ځاربدنه لکه ته؟

عجیبه ده په سترګو کې موسکی شي او راګوري
ورغواړي مې زړګي لره دننه لکه ته

ته راشه دلته خلک پر سپېرو خاورو پراته دي
هر څوک داسې ویده نه وي شتمنه لکه ته

یوڅوک وو چې غرور یې لا دا ستا تر غرور جګ و
هغه مې هم پر ملا مات کړ دښمنه لکه ته

ستا مینه کړم پرې ماته او ښه ټینګه غېږه ورکړم
ولاړه پر ګودر ده دنګه ونه لکه ته

زما د یار همدغه نښانه ده شفاعته!
را مات شي په مسکا وکړي مننه لکه ته

د افغانستان اسلامي امارت

په افغانستان کې د برغلګرو او کوډاکیانو ځانې او مالي زیانونه

۲۰۱۷ راپور

عملیات 7503

48 استشهادي عملیات

■ په تیر کال کې په ټول هیواد کې د دښمن 20 چورلکې او طیارې رانسکورې شوې دي

7 بې پیلوته

13 چورلکې

وژل شوي

289 برغلګر

14938 کوډاکیان

408 وژل شوي کوډاکي قومندانان

ټپیان

124 برغلګر

9430 کوډاکیان

4196 تسلیم شوي عسکر

323 ترلاسه شوي وسائط

2976 تخریب شوي

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal

COLLECTION OF 2017